## مینه!

ریکا جگړه بې پایلې سرته رسېدلې، د
و ښه وه له ځانه سره د خپل مین د زړه لـه
چې تا وګټله ـ امریکې خو د خپلـې ډرامـې
غـې دور ناځوانۍ هـم ټـولې د دې کیسـې
، وطن په غرونو کې له لـړ شمېر شـعوري
که دولتي او انجویې کړې وې او که عام
ي داسې ګـڼلي وو، چـې د لنګـو مېښـو لـه
ي.

ه ده چې تللی وخت په بېرته نه راګرځي او
ي او که نه نو په دومره اوږده موده کې خو
ب خان او ایمل خان په څېـر یـې دا خـاوره
ې پردې ایښودونکي قدمونـه د خـاورې بـې
س مهال خاورې ته د پردیو راتـګ لکـه پـه
ات شمېر ځناورو په منځ کـې مـرداره پرتـه
په دې مردارو غوښو سرې دي، ننګ هېر
، خان غوندې پښتنو سره چې پـه قبرونـو
لـوی سـبب دی، چـې اوږده مـوده هغـه د
د بهرنیـو شـتون تجربـه کـوو) ـ د نـاول دا
ه دې خاوره کې تنګه شوې او د خپل مین
وسه دلته دي. ډېر یې چې واړه راغلي وو،
و اوس یې سرونه سپین شوي دي. په هر
ه بدرنګیو کې او په هغومره نفرتونو کې یې

رونـه مـړه بـه شي
کـې تنـګ شـوي دي
. ګهیځ



# تا وګټله!!

ګرمي وه او لمر لکه د مزدور په سر بادار، کلک ولاړ ؤ. زه له نورو ورځو لږ ناوخته راغلی وم، تر ما وړاندې د مزدورانو او نورو خلکو لیکه چې تالاشۍ او لومړۍ دروازې نه د تېرېدو په تمه ولاړ وو، دومره اوږده وه چې د اسمان له سور لمر سره یې د زړونو په خفه کولو کې سیالي کوله.

د خلکو له دومره ګڼې ګوڼې داسې ښکاریده، چې د کلیو او ښار ټول بې روزګاره دلته راغلي وي او یا داسې چې په نورو ځایونو کې هېڅ د کار روزګار درکونه نه وي.

نه شوه کېدای چې د خلکو له لیکې په ځان پسې وګورې ځکه دلته اصول داسې وو، چې پوځیان یې په وسله او نورو وسایلو سمبال ولاړ وو، هلته د دننه کېدونکو خلکو ټول حرکات د امنیتي کمرو نه غیر په مخامخ ډول هم [illegible] کابل نوي افغانانو د [illegible]نو، چې یو یې بې نوبتي هم وه، هېڅ شان نه و.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره ساعت وروسته مې نوبت راغی، خوله مې په وتو - وتو په بدن کې وچه شوې وه، مخې ته د ولاړ ترجمان اشارې ته سترګې وم. یوه بهرنۍ سرتېرې راته د ورتلو ګوته وښوروله، ورنږدې شوم، د نورو په څېر ما هم د تالاشۍ لپاره ورته لاسونه پورته کړل، د پلټنې پر مهال یې د عطرو په وړه ښیښه ګوتې ولګېدې، پخپله ژبه یې وویل:

- دا څه دي؟
- دا عطر دي
- ته په انګلیسي پوهېږې؟
- هو! لږ لږ

پوزې ته یې یوړل، په داسې حال کې چې د عطرو له بویولو سره یې سترګې پټې کړې، ویې ویل:

- نو په دومره کوچنې بوتل کې؟

ما څه ونه ویل، هغه په اوږه وټپولم او را ته یې د تللو اشاره وکړه.

تراوږدې لارې وروسته او د خلکو له اوږدې لیکې اخرهغه ځای ته راورسېدم چې د سترګې د عکس لپاره یو ځوان امریکایي ولاړ و، هغه عکس اخیستو ته ځان جوړوه، چې په مخابره کې پرې غږ وشو، ماته یې د شیبه صبر وویل، هغه د څنګ وسپنیزې خونې ته ننوت...

لږ وروسته د څنګ له وسپنیزې خونې د ګلاب د ځانګې په څېر ښکلې، سپینه او دنګه نجلۍ راووته، په پوځي یونیفارم کې پټه وه. له راتلو سره یې پوځي خولۍ له سره لېرې کړه، پر مېز یې کېښوده، نه پوهېږم دعادت او که د ځانګړې هرکلي په دود یې ژر ژر سر یوې بلې خواته کوږ کړ، د ګڼو طلایي زلفو ځنګل یې په اوږو خور شو او پر



میز پرته کمره یې راپورته کړه.

ماته یې یو وار بیا په شنو غټو ښورو سترګو راولیدل، پراخ سپین تندی، نرۍ وروځې، ګرد بې داغه ځلېدونکی مخ او بې سینګاره ښکلا ته یې حیران پاتې شوم، زه یې د مخ کتاب او د سترګو دریاب کې ورک وم، هغې په کمره ګوتې وهلې، څه وخت وروسته یې په خپله ژبه وویل:

- وبخښه! ځنډ مې وکړ، اوس سمه شوه، سترګه دې ښه خلاصه کړه!

دا خبرې نه وې سمې مرغلرې وې، ماورته سترګه ښه برګه کړه او هغې را ته کېمره نیولې وه، څو وارې یې بټن کېکاږله، خوعکس نه سمېده، هغه هم شکې شوه، یو وار بیا یې را ته د سترګې خلاصېدو وویل، دا ځل یې عکس واخیست، خوپه اخیستو کې یې دومره ځنډ وکړ، چې په کتوکتومې له سترګو اوښکې توی شوې.هغې چې د کمرې له ایښودو وروسته بیا رالیدل، نو زما لمدې سترګې یې ولیدې، په خندا یې وویل: ولې ژاړې!

***

دې ځای نه وړاندې د نورو کارګرو د راټولیدو ځای ته چې یوه له تیرو جوړه پخوانۍ ودانۍ وه او جنګونو یو څه ویجاړه کړې وه، ورسېدم، شپږ خونې یې درلودې، څلور ـ څلور کسان به په یوه خونه کې پاتې کېدل، دا مو له کاره وړاندې د راټولیدو او د کار نه وروسته د دمې ځای و.

په دې ودانۍ کې به وړاندې د یوازې پاتې کیدو پر مهال داسې وم لکه په کوم زندان کې چې پروت یم، خفه کوونکې وه، د وړو او غټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرمیو داغونو او ورانیو یې د تېرو جنګونو کیسې کولې، خو نن چې کله زمونږ ټیم لیډر امریکایي ځوان په نورو مزدورانو پسې لومړۍ دروازې ته ولاړ او زه یوازې شوم، نو د سترګې د عکس اخیستو شېبې راباندې څه بېل کیف راوست. بې بنګو نشه، مستي، عطرینه فضا، خوږه خندا اود هغې شېبې نورو ډېرو ځانګړنو د جنګونو په هغه ځپلې ودانۍ کې داسې یو پسرلی را له بره کړ، چې د دښتو او غرو د لمنو پسرلي ترې ځارېدل...

خو د دې یوې شېبې نه هېرېدونکي سپرلي ورمو مې دننه په زړه او وجود کې داسې یوه ناقراراري راپیداکړه چې په رنګ، وینه او وجود کې مې ورسره راولاړېدونکي تغیرات د پټولو نه وو.

دا وېره او اضطراب په خپل ځای چې دغه د یوې شېبې په پسرلي پسې څومره خزانونه راتلونکي وو او بیا دا قناعت تروږې ارماني ناره چې:

*بوراګـــانو د ســـپرلو لمنــــې نیســــې*
*د ګلونـــو قـــافلې ګنـــې پـــه تلـــو دي*

دې هرڅه سره راته د هغې خبرې، د هغې څېره او په پوځي لباس کې د قد قامت چینارونه داسې وو، چې زه یې د هغې د طلایي زلفو په ځنګل کې ورک کړی وم، بیا بیا به مې په زړه، ذهن او سترګو د میده میده باران په څېر راورېده او زما په وجود ننوتي ساړه به یې په لړزې بدلول.

زړه به برېدونه نړول، د هغې د بیا لیدو ارمان له دننه خوړلم، مګر څه نه شو کېدای، ځکه خو مې په زړه لاس کېښود او لکه د ماشوم مې د ذهن خبرې اورېدو ته غوږ کړ، زړه مې راسره یو څه ومنله، خو داسې



لکه زه چې یې تېرباسم، بیا هم راسره پخلا نه شو.

***

د موټر غرار لکه له خوبه چې را بیدار کړی یم، پاتې ګارګرهم راورسېدل، امریکایي زلمی نېغ زما خونې ته راغی، ودرېد او نری مسکا یې په خپلو شونډو ولوبوله. ما ورته د چای څکلو وویل، سم له واره یې له سترګو تورې عینکې لرې کړې، خپل اوږد ټوپک یې له غاړې ښکته کړ او له اوږدو بندو بوټانو سره په توشک کېناست... خولې یې پاکې کړې.

نوکریوال د شنو چایو پیاله ورته مخې ته کېښوده، هغه شین چای داسې ګرم ګرم څښه لکه سم پخوانی عملي یې چې وي، خو ایله یې درېیمه ورځ وه چې موږ سره په شنو چایو روږدی شوی و.

نن یوازې دوه لوی ماشینونه لګېدل چې د حوض لپاره ځمکه وکني او بل یې خاوره یوسي، نور کارګر کرارې کېناستل او زه ورسره ولاړم، زه له یوې خوا د کار د څارنې او لارښوونې مسوول وم او له دې سره مې د کارګرو او بهرنیانو ترمنځ د خبرو ماته ګوډه ژباړه هم کوله. داچې نن کار لږ و، زه هم د هغې ښکلې یادونو او فکرونو ته وزګار وم.

کار پېل شو زه او امریکایي یوې غاړې ته کېناستو، هغه د کار څارنه کوله او زه د کار له ځایه لرې د هغې په یادونو کې ورک وم. ژر مې ځان ته پام شو، امریکایي را ته له عینکو لاندې ګوري، هغه به له ځان سره ډېر خندلي وو، خو زما ور ته پام نه ؤ، خو چې خندا یې پولې ونړولې مخ مې ورواړوه...هغه په پوښتونکي انداز راته ولیدل، د حالت پوښتنه یې وکړه:

- نن بل ډول یې، داسې نه یې لکه د کار په ساحه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه نه څه خبره نشته

هغه ونه منله

- زه پوهېږم او ما اروا پوهنه لوستې

وروسته يې وويل:

- ووايه څه خبره ده؟ په ټوله لار درسره غږېدم، خو ستا فکر بل ځاى کې و.

پوه شوم چې له دوى سره هيڅ دروغ نه کېږي، ژر فکر راغى چې دوى خو ډېر ښه چلند کوونکي خلک دي، نو د لومړۍ دروازې پېښه مې لنډه لنډه ورته بيان کړه...

د خبرو پر وخت غوږ و، وروسته غلى شو، لانديني شونډه يې په پاسنيو غاښونو کې ونيوه، سر يې وښوراوه، زه وډار شوم ګوندې ښه پرې و نه لګېده.

لا هم په همدې انديښنه کې وم، چې زما په اوږه يې خپل لاس کېښود، ډاډ يې راکړ او ژمنه يې وکړه چې زه به دې ښه ډېر ور سره مخ کړم.

زه په زړه کې ډاډه شوم او له ډېرې خوښۍ نه مې د هغه د ډاډمنو خبرو هيڅ ځواب پيدانکړاى شو.

هغه په ټوکه وويل:

- ګوره ښاغليه! دلته د واده او مينې هيڅ امکان نشته، که وى نو به زموږ شونډې له پاړونو ډکې نه وى، دې خبرې سره يې له مجبورۍ پر شونډو نرۍ مسکا ته زه هم اړ کړم.

***

د حوض کار يو څه سر ته رسېدلى ؤ، خو د غرمې ډوډۍ لپاره



مشينونه بند شول، امريکايي څارونکي په پخپل موټر کې ځاى ته ورسولو، له لمونځ او ډوډۍ وروسته يې د پاتې کار تر سره کولو وويل، موټر ته چې وختو لا يې دوهم ګېر نه ؤ لګولى چې بېرته يې بريک ونيوو، ما وويل:

- ولې صاحب!

وروځې يې را ته پورته کړې، ويې خندل او کيڼ لوري ته يې اشاره وکړه، هاغه خو نه ده؟

چې ومې ليدل هماغه نجلۍ پلې روانه وه، زه لکه په خوله چې ګونګ شم، امريکايي مې رنګ او خاموشۍ ته وليدل، موټر يې ژر تاو کړ، د هغې نجلۍ مخې ته يې ودراوه، پخپله ژبه کې يې سره لنډه سترې مشي او سلام وکړ، هغې نجلۍ چې وليدم بيا يې خپلې تنکۍ ګلابي شونډې په خندا وګډولې، د هغې يوې شېبې سپرلي ته يې داسې روح ورکړ، چې ورپسې خزانونه يې په منډو کړل، لاس يې راکړ، په دې شېبه کې چې يې هر څه وويل، پرې ونه پوهېدم، زه يې يوازې مخ ته څير وم، هغې راسره په خندا خندا د بيا ليدو ژمنه وکړه او روانه شوه. په قدمونو پسې مې ورليدل، موږ هم روان شو، لږه ساه مې واخيسته، امريکايي راته وويل:

- څنګه خوشاله شوې؟

زه لکه خوب چې ګورم، په ناارامۍ مې وويل:

- هو! خو..

امريکايي په خوږه ترخه بېرته را غبرګه کړه:

- خو!

زه، لکه خپله چې هم نه پوهېږم، ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو!

ویې خندل او بیا یې داسې وویل، لکه ښوونکی چې مې وي:

- دومره د زړه مراندې ورسره مه تړه، هغه له دې ځای نه ډېره لرې تلونکې ده او بیا ستا او د هغې اړیکه تر دې ځایه ده، بیا وایم چې هغه له دې ځایه تلونکې او ته به پاتې کېږې.

ما یې خبرې په غور اورېدې، د خپل فکر او فرهنګ په اړه مې ورته هیڅ و نه ویل، زموږ ځای راورسېد، کارګر ښکته شول، زه او امریکایي لا ناست وو، غړېدو، ما ور ته موږ سره د ډوډۍ خوړنې وویل:

- نا زه هلته ډوډۍ خورم، هسې نه د چای غوندې مې دلته په ډوډۍ هم راواړوئ، دې سره په خندا روان شو.

***

دننه دتللو زما ایله څویمه ورځ وه، دومره اشنا نه وم، هر څه راته نوي ښکارېدل، د امریکایانو قرارګاه، ترې چاپېره اوسپنیزې بندې لارې، چاپېره دیوالونه، دوه درې ځایه د افغانانو او ورپسې د امریکایانو تالاشي، د سترګوعکس، دګوتو سرونو لیدنه، د دې ټولو له پوره ډاډه کېدو وروسته کارت ورکول او له هغې وروسته د خپل مشر امریکایي انتظار - دا ټول د یو نابلده کس لپاره خامخا نوي وو.

دا په ننګرهار کې ځانګړې او په ګرد افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له لویو هوایي ډګرونو څخه و او د امریکایانو یو لوی نفوس پکې ځای پر ځای ؤ، بې بریده پراخه میدان و. ما د خپلو کارګرو د مشر او ژباړونکي په توګه دنده درلوده او تنخوا به د ټیکې د رئیس لخوا، چا چې ور سره د مشینرۍ قرارداد کړی ؤ راکول کېده.



دا د ټیکې نظام امریکایانو راوړ، دغه ډول پروژې د امریکایانو په شتون کې تر دا اوسه چې ۲۰۱۶ م کال روان دی ځینو خاصو کړیو ته داسې ورکول کېږي چې د څو قراردادیانو ترمنځ بدلېږي.

دغه ټیکه داران او د پروژو د راکړې ورکړې په سر کې ځینې بهرني، ترجمانان او نور شریک وي، دوی د پروژې له نیمایي ډېر لګښت داسې سره اخلي، چې هغه د چا خبره نه لاس خوږ او نه پښه...

خو زیان یې هغو خلکو ته رسېږي چې پروژه ورته پلې کېږي او تر دې لوی زیان یې همدا د ټیکې سیستم له لارې د نورو په تناکو د ټیکه دارانو د ښځو، لوڼو او بچیو د مخ سره دي چې د مزدورانو وینې پکې ځلېږي.

دغه ټیکه داران که د اوړي په یخو خونو او دژمي په ګرمو خونو کې ناست وي او د نورو د لاسونو تناکو ته حسابونه کوي، دوی که په میاشت کې یو وار دوه له پروژې لیدنه کوي، نو هم نظر یې په خپلو مشینونو وي، د کار معیار او د مزدورانو په حالت یې سترګې ړندې وي.

په ننګرهار هوایي ډګر کې زموږ په څېر نورو سلګونو افغانانو هم کار کاوه او په بېلابېلو پروژو کې بوخت وو، دلته ټول کارونه د همدې ټیکې په بنه وو، عادي کارګر هم په لوی شناخت په کار لګېدل.

امریکایي ځواکونو سره په نورو لسګونو پروژو کې په بوختو کارګرو سربېره لسګونه نور افغانان له دوی سره په پوځي دندو بوخت وو، دوی به په لومړیو کمربندونو کې ولاړ وو، دوی به خپلو افغانانو سره تر بهرنیو ډېره سختي کوله، پرعاداتو سربېره چې بهرنیو ته شوي وو، هېڅ ډول افغان پالنه نه وه ورپاتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرى يې شاړي وو، دوی له رنګونو هسې هم سره دي او نه يوازې په ننګرهار هوايي ډګر کې، بلکې په اکثرو ولايتونو کې له امريکايانو سره ګډ ليدل کېدل.

***

ډېرې ورځې خو ناکراره او درنې ورځې واوړېدې، په کومه تمه او سوځېدلي تلوسه چې به کار ته تللم او د چا لپاره چې مې هغه سوځنده لمرونو ته غاړه ايښې وه، هغه سترګې نه وې او دا چې د هغې په ښکلې څېره مې سترګې نه لګېدې، ځکه خو زما په سترګو هم تيارې خورې وې.

يو وار بيا راته د دندې ماحول اغزي اغزي شو، د پسرلي هغه ورېمې داسې شوې، چې ته وا د هوايي ډګر په دننه کې سيلۍ لګېږي ما هم تيوس نه شو کوی، زموږ رهنما امريکايي زلمی هم بدل شوی ؤ او له نوي مې سم له واره نه شول پوښتی، خو يادونو يې نورې را له د زړه پولې نړولې.

*جدايي مه راولې خدايه*

*ما جدايي لېدلې نه ده مړ به شمه*

ما يوازې خپل زړه خوړه ـ نا زه يوازې خپل زړه خوړلم...همداسې څه وو، هغه خو راڅخه خبره هم نه وه، چې سړی ګوندې بيا مجنون شوی دی.

د هغې په يادونو کې ډوب وم، وروسته د اودس لپاره روان شوم، چې ليدل مې هماغه وه، خپل پوځي لباس يې لرې کړی او په يوه باريکه لباس کې داسې روانه وه، چې تور اوږد ټوپک ورسره هغه د چا خبره خوند کاوه...



زما ياد ته يوه لنډۍ راغله، خو زړه مې احساس ته خجالت کړم او هېڅ مې په شونډو رانوړه:

*تر دا لنډي ټوپک دې ځار شم*

*په غاړه ستا دی کېږه زه درسره ځمه*

زه يوې غاړې ته ولاړ وم، هغه روانه وه، خپلې طلايي ګېډۍ زلفې يې شاته لرې ورپورته ترلې وې، بازار ته د څه اخيستو له پاره تلله، د سپينو متېو زيب يې يوې خواته، خو مزل يې د ډېرې پاملرنې وړ و.

پښنه چې به يې کېښوه او بيا به يې پورته کوله، نو زړه کې به رخه او کينه راتله، چې ولې يې نو پښو ته شنه بخملي قالين نه غوړېږي!

بيا به مې زړه زور واخيست او ارمان به پکې غزونې وکړې، ځکه په دې دنيا او دې انسانانو کې نه مندونکی حسن و، سترګې يې داسې نه وې، لکه دې نرۍ کې چې غړېدلې وي، د شونډو سرو يې له ګلاب پرته بله تشبيه نه منله.

هغه له وسپنيز جال جوړ دېوال په وره ننوته، زه هم ورو ورو ورروان شوم، هلته داسې بازار و چې په اوونۍ کې به يوه ورځ بهرنيو د خپلې خوښې توکي په کې رانيول.

دې بازار ته به په ګران بيه غميو او کاڼو سربېره افغاني لاسي توکي راوړل کېدل او بهرنيو به ورسره مينه لرله، هغوی به د لږو پيسو په توکيو ډېرې پيسې ورکولې او افغان پلورونکي به ورته خوشالېدل.

ما چې له هغې سره يو ځل دوه ليدلي وو، ځان مې نابلده کړ او ځنګ ته يې زه هم ودرېدم، هسې د توکو د نرخونو په پوښتلو مې د هغې پام راواړوه، مخ يې راوګرځولو، ويې پېژندم، ماهم داغوښتل، پخپله ژبه کې يې را سره ستړې مشي وکړل، ما په بې صبرۍ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې ورځې نه وې؟
یو څه ساه نیولې شوه، بیا یې وویل:
هو دنده مې په بل ځای کې شوې، یوه اونۍ وروسته بیا لویې دروازې ته راځم.
لږه مې د زړه ناقراري کمه شوه
- ښه ښه، ډېر ښه، څه شی دې اخیستل؟
هغې د اوږو په غورځولو وویل:
- دا یو څه شیان مې راټول کړل، خو ډېر ګران دي
ما فکر وکړ چې دا به کنجوسه وي، ځکه په سودا اخیستو کې دومره خبرې کوي، ما د نورو افغانانو خلاف چې دوی ته تمه کوي، د هغې په ځای مې د پیسو په ورکولو ټینګار وکړ.
- خیر دی! پیسې به یې زه ورکړم
هغه حیرانه شوه، مګر کلکه وه، چې ته به پیسې نه ورکوې، ما په اشاره پوهه کړه، دوکاندار ته مې افغانۍ ورکړې، شیان یې په پلاستیک کې واچول، بهر چې راووتو ګوته په غاښ څو شېبې ولاړه وه، بیا یې وویل: له ما خو یې ۲۵۰ ډالر غوښتل، تا دومره پیسې ولې ورکړې؟
ما ورته وویل:
- مادومره پیسې نه دي ورکړي، له تاسې ډالر اخلي او ډېر اخلي، موږ نه ډېرې نه شي اخیستی، ځکه موږ ته یې بیه مالومه ده، ما ورته ټولې ۴۰۰۰ افغانۍ ورکړې، چې ۱۰۰ ډالر ترې جوړیږي.
لږ یې تندی ګونځې شو، بېرته یې د تندي کرښې ورانې شوې، شونډې یې په خندا خورې کړې...



- ډېره مننه
زه دوارخطایې نه لړزېدم، خو زړه مې کلک کړ او ورته مې وویل:
- نور څه کولای شم؟
په هماغسې غوړېدلې خندا یې وویل:
- نا...نا ډېره مننه، بیا ګورو
هغه ولاړه او پرله پسې (نا، نا) یې زما په ذهن کې داسې یو قیامت جوړ کړ، لکه څوک مطرب چې د رباب له یو ترنګ سره د رباب تار زر ځلې په لړزه کې راولي.
له ما هرڅه هېر وو، دا مې هم هېر وو، چې به څه پسې له ځایه راپورته شوی وم.

*د خپل یار د مینې داسې دېوانه یم*
*چې خبر نه په کعبه نه بتخانه یم*

***

په زړه راټوکېدلې تناکې مې یوه یوه ماتېده. په هوایي ډګر د راغلي خزان سیلۍ بېرته د سپرلیو په وږمو بدلې شوې وې، په دې رنګینیو کې مې زړه هم د درزا پر ځای د خوښۍ ټوپونه وهل.
د سودا پر مهال خپل منځي خبرې مې یوه یوه بېرته له سره یادېده، غټې ښکاري سترګې به یې یو دم راواړولې، مسکۍ به شوه، ژر به یې په لاس کې نیولې قالینې ته پام شو، په خوښۍ به یې وویل:
(ډېره ښکلې ده زه به پرې کېنم او ستاسې افغانانو غوندې چای به پرې څښم څنګه!)
د نوم د پوښتلو خندا یې راپه زړه شوه، کله چې مې ترې وپوښتل:
(نوم دې رانه هېر شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کړس کړس يې وخندل او داسې چې خبره يې له خندا بېلوله، ويې ويل:

- نوم مې ((مېګن)) دی او ((ينګ)) مې تخلص دی

ما سترګې ښکته کړې، په مينه مې وويل:

- ډېر ښکلی دی، خو زه به درته څه نوم اخلم؟

خپل ټوپک يې غاړه کې سم کړ

- ته! ته را ته ينګ وايه، ځکه هسې هم ځوانه يم، ځنګه؟

زه مسکی شوم

- ځوانه خو هسې هم يې، خو زه درته يوازې ځوانه ـ نه، زه به درته ځوانه شهزادګۍ وايم.

خوشاله شوه، په روانه کې يې وويل:

- او زه درته له (ښه هلک) غير بل نوم نه لرم

زما په زړه يې کرښه تېره کړه او هغه يو نيم شعر مې راياد شو، چې:

ستا په ژبه باندې هره ژبه خوند کا

زه له دمه ځايه هغه ټيم ليډر امريکايي سره موټر ته پورته شو، په لاره يې د ځنډ پوښتنه بيا بيا کوله، ما ځان ژغوره، خو هغه لکه په هرڅه چې پوهېدلی وي، د جيب نه يې مبايل راوويست، زما او د ځوانې شهزادګۍ ترمنځ ټولې خبرې، سودا او ولاړه عکاسي يې کړې وه.

هغې د دغه ډول چلند او بې صبرۍ د لامل پوښتنه وکړه، ما هم د زړه له حال نه خبر کړ، هغه راته همداسې کاته، بيا يې وويل:

- ښه نو ډېره دې خوښيږي؟

ما د هغې د نور تعريف نه پرته وويل:



- ډېره

هغه لکه په مينه کې چې استاد وي او لکه زما د زړه له ژورو چې خبر وي، ويې پوښتل:

- په جيب کې ميموري لرې؟

ما لږ په حيرانۍ وويل:

- نا... دلته خو د داسې شيانو د راوړو اجازه نشته

هغه لار راوښوده

- داسې وکه چې سبا ته يې راوړه او د اوس له پاره به همدومره وکړم چې ستا (ځوانې شهزادګۍ) ته به ووايم، چې ستا (ښه هلک) ته خپل انځورونه ورکړه، هغې سره په خپل کمپيوټر کې خپل انځورونه ډېر دي.

د امريکايي دې خبرې او ښېګڼې داسې کړم، چې له زړه مې ورته ډېره دعا وغوښته.

سبا ته مې همداسې وکړل، د سترګې انځور اخيستو پر مهال را ته امريکايي مخامخ ولاړ ؤ، په اشاره يې رانه د پلش اخيستو غوښتنه وکړه، هغه مې ورته ورکړ.

مېګن په وسپنيزه خونه کې يوې خوا ته ناسته وه، لکه چې له بېګاه يې خبره کړې وه، د سترګې له عکس اخيستو وروسته يې را ته اشاره وکړه، ورغلم، لاس يې راکړ، خوا ته يې نېږدې کېنولم، ټول فولډر يې را ته په منډه وښود او بيا يې زما پلش ته راولېږل، پلش يې زما پر ځای هغه امريکايي ته ورکړ، چې له ما يې څوک وانخلي، خو په راوتو کې يې غلي زما په غوږ کې وويل، داسې چې وېره ترې نه محسوسېده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تا نو ده ته هم ویلي!
زه غلی شوم، او یو څه مې د دې شعر ژباړه ور ته وکړه:

*ځانانه ستا د مینې درد د پټولو نه و*
*چې ترې سندرې جوړېدلې نو ما څه کړې وی*

نرۍ مسکۍ شوه، په شا یې وټپولم او سره بېل شو.

دې امریکایي ښکلې نجلۍ رانه نورې خبرې هېرې کړې وې، په هر ځل لیدو به یې له سره مَېنولم، شېبه په شېبه به یې د مینې لوړو ته پورته کولم، د ژوند چارې رانه پاتې وې او یوازې او یوازې د هغې د ښایست په نړۍ کې ورک وم.

***

د هغې د انځورونو د لیدو او ماسره یې د لېوالتیا له کبله هره شپه د کال هومره تېرېده، روح او زړه مې د وجود او سینې په زندان کې سره له یو بل بېزاره او خپه وو او وجود به خود زرې زرې کېده، چې په زړه کې ډېرې خبرې راتلې، دې سره به مې ځان ته فکر شو، نو پخپله به مې په ځان زړه وسوځېده.

د یو نا اشنا لاروي په څېر له داسې حالاتو سره مخ وم، چې هېڅ مې په خپله ګټه نه شو راګرځولی، د هغه د لرو پرتو ځنګلونو راالوتې مرغۍ، چې یوه ورځ به بېرته خپلو ځنګلونو ته ورګرځېدله او زه:

زه لکه ونه د تقدیر په زولنو تړلی

خو د هغې نرم او پوست خوی او دریابي مینې حوصله راکوله، هر سهار به وختي ښه په مینه پاڅېدم او لکه پاچا به ښغ خپلې وظیفې ته تللم. اوس را باندې د پخوا په شان مزدوري او وظیفه بار نه وه، پکې خوښ وم، که څه هم ګرمۍ او مزدورۍ به کله دومره تنګ کړم



چې زړه به مې شو چې نوره دا وظیفه خوشې کړم، خو چې به مې ((مېګن)) ته فکر شو، نو د دې هرڅه د زغملو وس به مې پیدا کړ.

زما په دې کلي کې څه دي - زه خو د یار سترګو ته شپې سبا کومه تر دې هم مخ نه ګرځېده، چې مینه پولې او برېدونه نه لري، ګرمي او سختي نه شي کولای د مینې تارونه پرې کړي، زه هغې سره تړلی وم، د پایلې په فکر کې نه وم، چې هر څه پېښېده.

ټول هوایي ډګر سپرلی سپرلی ښکارېده، هره خوا د هغې ګلاب ګلاب څېره تر سترګو کېده، د هغې برېښوونکي مخ او مرمرین وجود سړی د ژوند له هرې لارې اړوه.

په هغې امریکایي نجلۍ ((میګن)) چې به د هر چا نظر پرېوت په کړاو او غم به یې اړوه، خو زما کړاو او غم سپېڅلی و، د حوس په پړو تړلی نه و، ځکه ما چې یې له لیدو کوم خوند اخیسته، نو هغه لکه ګلاب چې په بوټي کې د خوشبو لپاره غوړېدلی وي.

د کارګرو له مخې د هغې په تېرېدو به د ډېرو زړونو ته څه راتلل، خو هلته اصول وو او د خولې خبرې هم جرم و، خو زمونږ ریبار بیا د همدوی له نسله و او ماسره یې د هغې په مخ کولو، کېنولو او غړولو کې ډېره مرسته کوله، ځکه خو به مو کله کله سره لیدل او د انتظار تنده به مې خړوبېده.

وروسته بیا دومره راسره خوږه شوه چې که زما به پام نه و او هغې به ولیدم، نو د لاس پورته کولو سره به یې راغبرکړ:

- ښه هلکه!

د هغې دغه غږ به باغ باغ کړم، دا به یې راته د مینې ښښه ښکاره شوه او په زړه کې به ډاډه شوم، چې دومره خو یې یاد یم او دا مې هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ته کوزه شوه، چې کله مې ترې د هغې برېښليک وغوښت، په لاس رنګينې امريکايي مجلې څخه يې هغه پاڼه وشلوله چې قت شوې وه او خوشبو يې لرله، هغه نيمه پاڼه چې يې راکوله، په خندا يې وويل:

- ته يې بوی که، څومره خوږ بوی کوي!

د هغې په غوښتنه مې د مجلې نيمه پاڼه چې ادرس يې پرې ليک و، بوی کړه، خوشبوی يې نشه کړم. اوس يې هم را سره هاغه د لاس نښه شته، کله چې به مې ور ته برېښليک واستوه، ځواب به يې ډېر لنډ او تنګ ؤ، خو ډېر خوښوونکی او په زړه پورې به و.

هغه ټوله له مينې او عاطفې جوړه وه، خندا او خوشاله ژوند يې فطرت ؤ، هر څومره چې به غرېده خوند به يې ور سره کاوه، د هرې خبرې ول پرانسته او پلو ترړلو هنر يې لکه په ختېه کې چې اغږل شوی وي.

***

يوه ورځ مې ترې په روانه روانه کې وپوښتل:

- څنګه لويه شوې؟ مطلب داچې په کوم بل ځای کې ډېره پاتې شوې يې؟

هغه پوهه شوه، چې مطلب مې څه دی، زما زوړند لاس يې پخپل لاس کې ټينګ ونيو او ورو ورو مو قدم وهلو، خپله دنګه غاړه يې پورته نوره پسې هسکه کړه، اسويلی يې وکړ، ويې ويل:

- هئ ښه هلکه! ژوند ډېرې لوړې ژورې لري، خو ولې ژوند دومره ګنډلی او تنګ هم نه دی څومره چې يې تاسې افغانان ګڼئ. ستاسې په خپل مذهب کې راغلي چې انسان ازاد دی او زموږ پخواني



ولسمشر ابراهم لنکن هم ستاسې په دين کې ډېره مطالعه او مالومات درلودل، هماغه وو چې د دغه اغېز پر بنسټ يې په امريکا کې غلامۍ ته د پای ټکی کېښود، له هغې وروسته امريکې چې څومره پرمختګ کړی لامل يې يو دغه هم کېدی شي، ځکه په هغو تورپوستوغلامانو کې داسې څېرې او ذهنونه وو، چې د دغه هيواد او ولس د هر اړخيزې هوساينې او پرمختګ سبب شول. انسانيت هيڅ ډول رواج، شرطونو او کولتور ته اړتيا نلري، ترهرڅه لوی عبادت انسانيت دی، کله چې انسانيت راشي، هغه ټولنه، کولتور، قام او هيواد غښتلي کيږي.

ما د هغې خبرو ته غوږ ايښی و، د خپلو خبرو پر مهال به يې خپل کينړ لاس ښوراوه، کله کله به نرۍ مسکۍ شوه. که زه د هغې په ژبه پوره پوهېدلی ډېر به ښه وو، خو دغه تشه مې ځکه نه محسوسوله، چې مېګن ډېره هوښياره او د سړي په زړه او حرکاتو پوهېده، ما به له خولې کوم لفظ نيم ايستی نه و، د هغه تر شا چې به مې څه ويل غوښتل را مخکې به شوه او زما پاتې خبره به يې پخپلو خبرو کې را پوره کړه.

په خبرو خبرو کې د هغې خېمې ته راورسېدو، مخ يې راواړوه، ويې ويل:

- زه ننوځم چې ارام وکړم او ته...

- زه به هاخوا لاړ شم چې کار روان دی په هغې پام وکړم.

زما لاس يې يو ځل بيا زور کېدو نه وروسته خوشې کړ او سره بېل شو.

د غزانو ونو لاندې سيورې ته کېناستم او لوی مشين چې ګريډر ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي په سرک ميده کاڼي هوارول، د اوبو ټانکر به پرې اوبه اچولې او رولر به کېمنده چې کلک شي. درې واړه مشينونه او ګاډي د دغې لپاره ما مؤظف کړي وو، د غرمې وخت نږدې ؤ، امريکايي زلمی راورسېد مشينونه مو پر ځای ودرول او پخپل موټر کې يې د تېر په څېر وخېژولو چې خپل تم ځای ته ولاړ شو.

نه پوهېږم چې دغه زلمی امريکايي به زه زورولم او که به يې ټوکې راسره کولې، هر څه چې وو، خو ساعت به مو سره تېرېده، بيا يې راته وويل:

- ځنګه، نن دې ملاقات وشو؟

ما ورته وويل:

- تا خو ليدلی يم، ځکه خو وايې

په خندا شو

- نا، ما نه يې ليدلی، خو د مخ تازګي دې حال وايي

په ما هم د هغه دغه خبرې ښې لګېدې او بيا بې له دې هم...

څوک چې خبرې د جانان را ته کوينه

په خوښۍ مې ورته وويل:

- هو! تر خېمې ور سره يو ځای وم

ويې خندل

- لاس په لاس

نورهم په خندا شو...

***

دغه زلمی ويليم نومېده، خپل ځای ته چې ورسېدو ښکته شو، په خونو کې يو يو پاتې شوي موټر چلوونکي خپل خپل خواړه تيار کړي



وو، ما سره چې ويليم خونې ته ننوت، ډرېورانو د خپل رواج او مېلمستوب له مخې له خپل دېګ څخه يوه يوه کاسه را ډکه کړې وه، دومره چې دسترخوان له راز راز خوړو ډک او رنګين شو. ويليم دا هر څه په لومړي ځل ليدل، په ځمکه ناسته، ډوډۍ بيلول، په ښوروا کې لمدول، سلات، سابه، بېنډۍ او زموږ د ډوډۍ خوړو طريقه ورته ډېره حيرانوونکې، خو په زړه پورې ځکه وه چې هغه هم زموږ په څېر پيل وکړ، خو هغسې چې موږ خوړل هغه نه شو خوړی. کله به يې مړۍ لويه را بېله کړه او لکه د کاشوغې به يې له اينګولي ورلاندې کړه، پر ځای د دې چې په لاس يې خولې ته ورسوي سر به يې پسې راټيټ کړ او خوله به يې ورته بې بريده وازه کړه، ډوډۍ مو ښه په خندا داسې چې ورې ځای ته مو لانړه، وخوړه.

ويليم پاڅېده او خپل موټر څخه يې يخ پيپسي او نور شربتونه راوړل، هغه مو پسې وڅښل، زموږ په خونه کې معشوق استاد ډېر تبليغي او پرهېزګاره سړی ؤ، هغه د ويليم په فکر کې ؤ او ډېر يې ورته کتل، موږ چې ډوډۍ وخوړه دعا مو وکړه، ويليم سم له واره پوښتنه وکړه، ما ور ته وويل موږ له خدايه د مننې لپاره دعا وکړه، شکر مو وويست.

هغه يو څه شېبه ګوته په غاښ و، بيا يې وويل:

دا خو تاسې زيار باسئ او ډوډۍ په دې سره ځان ته برابروئ، که کرار ناست وای او تياره درته راتلی، نو هغه وخت به مو شکر ايستی وای.

ما ورته وويل:

داسې نه ده، خدای وايي بنده ته حرکت کوه! زه به برکت اچوم، ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې حرکت نه کوې خدای وايي زه هم درسره ملګری نه یم، دا زموږ عقیده او ایمان دی، زموږ دین او کلیمه خو دا وايي.

هغه غلی و، بیا یې وویل:

سمه ده! ستاسې کلیمه څنګه ده؟

معشوق استاد لکه پوه شوی چې و، څه یې وویل؟

ما ورته وویل دی وايي چې، ستاسې کلیمه څنګه ده؟

هغه ژر را مخکې شو، په رنګ کې یې ښکاره بدلون راغی او ویلیم ته مخامخ جوخت کېناست، ویلیم ما ته وکتل:

معشوق استاد وویل، ده ته ووایه که کلیمه غواړې واوري، نو غسل شرط دی، لومړی به غسل وکړي، وروسته به ورته کلیمه ووایم.

ویلیم ته مې د هغه خبرې ترجمه کړې، پورته شو، ځای مې وروښود، لږه شېبه وروسته راغی، کېناست ورته مې وویل:

دی چې یې څنګه وايي ته یې هم وایه! معشوق استاد د التحیات په څېر کېناست، امریکایي زلمي ته یې هم د ځان په شان کېناستو وویل، بسم الله یې وویله، بیا یې کلیمه ورته پیل کړه، کله چې الا الله ته ورسېدل د زلمي ژبه پرې نه اوښته، هر څومره چې به ور ته معشوق استاد اسانوله نه کېده، پاڅېد، پرسرېې د اوبو یو یخ بوتل واړوه، شېبه وروسته بیا راغی، ما ته یې ګاډي ته د راتلو وویل، معشوق استاد ته یې هم اشاره وکړه، دواړه روان شو، موټر ته وختو، ناستو ډرېورانو چې هر فکر کړی وي، خو له څېرو داسې ښکارېدل چې ګوندې امریکایي ورته په قار شو او مشر ته یې وړي، خو ما ورته تاکیدًا وویل چې هیڅ خبره نه ده، تر یوه ځایه چې لاړو ودرېده، بیا یې وویل:



ښه اوس راته بیا ووایه، خو که مې وویلی شوه بیا به زه هم ستاسې غوندې کېږم، خو دلته نه او دا راز به راز ساتئ.

دا ځل یې کلیمه لکه د اوبو تېره کړه، ما ورته په سبا د یو دیني عالم کتاب چې په انګلیسي کې وو، پټ راوړ، ور مې کړ، هغه اوسپنیز ډالر یې راکړ، چې په خپله بټوه کې یې له ډېر وړاندې ساتلی ؤ او ما ته یې ویلي وو، چې دا مې د مېرمن د لاس نښه ده.

هغه نښه چې نن ماته راکوله، ورسره یې دا هم وویل:

ډېره را ته ګرانه ده، ما سره تر دې بل محبوب څیز نشته، دا واخله...

ما ورته وویل، هغه څه چې ما ته په زړه پورې وو، هغه تا یو په بل پسې وکړل.

- کوم څه؟

هغه پوښتنه وکړه

ماورته د وریادولو په دود وویل:

- یو له مېګن سره د لیدنې مرسته او بل زموږ د دین قبلولو احسان او مبارکي، هر څه چې مې ورته وویل نه یې منل او هغه اوسپنیزه روپۍ یې راکړه.

***

معشوق استاد ډېر مسلمان او ښه سړی و، تل به یې ویل، چې کامیابي یوازې د الله جل جلاله په دین او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په طریقه ژوند تېرولو کې ده، موږ که دلته له امریکایانو سره کار کوو او ډېر خلک یې بده ګڼي، خو حقیقت دا دی چې ور سره مزدوري روا ده، غلامي یې حرامه ده او دا وګوره څومره لویه ګټه مو وکړه که دغه شان، له هر منکر سره په مینه او احسان خبرې وشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خامخا د زړه تل ته کوزیږي او موږ به خدای په لویه ورځ په دې نه نیسي چې تا ولې جهاد نه دی کړی، بلکې په دې، چې ولې دې زما دین نورو ته نه دی رسولی، که دغه لړۍ روانه وساتل شي هیڅ ستونزه به نه وي. د دغه یو امریکني په مسلمانېدو ښایي چې ډېر نور مسلمانان شي.

قلندري استاد چې د معشوق استاد، استاد پاتې شوی او له معشوق استاد څخه په دیني مسایلو کې ډېر کم پوه و، بلکې بیخي شړ ؤ په تونده لهجه یې ور ته وویل:

- مړه امیر صیب! پرېږده یې، که دا مسلماني زموږ د افغانانو په څېر وي، نو هیڅ دې څوک نور مسلمان نه شي، وګوره پرون یې راته وطن ړنګ کړ او نن ور سره کار کوو او د هغوی د لاس لاندې یو.

معشوق استاد ډېره حوصله درلوده او بل یې استاد پاتې شوی ؤ، ورته یې وویل: استاده! ستا خبره په سر سترګو، خو د لاس ګوتې هم یو شان نه وي او انسانان خامخا نفس او شیطان لري، په بدو اعمالو وروسته خپه وي، خو کار ترې شوی وي او بله دا چې که هر سړی لومړی خپل ځان سم کړي، انساني کرامت ته ژمن و اوسي پخپله به هر څه سم شي.

ماته د دواړو خبرو خوند راکړ، خو چې شته مسلمانۍ ته مې ولیدل، نو هغه د خپل استاد خبره رایاده شوه، استاد ویل، په کامه کې د یو سربند جوړولو پروژه په همدې ډالرباران کې یوه جاپاني انجنیر عملي کوله او خلکو یې د کار و زیار ډېرې خبرې کولې.

د استاد وینا ده چې ماسره هم د دې جاپاني د لیدلو تلوسه پیداشوه،



نو د کار ځای ته یې ورغلم، هلته له جاپانی نه او کار بوختو کسانو یې هم ډېرې ستاینې وکړې، یوه یې وویل:

- ډېر ښه سړی دی، اوس پرې خواري کوو، چې مسلمان یې کړو...

استاد ویل، مایې خبره ونیوه او ورته مې کړه:

- لږ وار ورته وکړئ، که د دې کار په منځ کې مو مسلمان که بیا به دا کار داسې سرته ونه رسوي، لکه څنګه چې یې پیل کړی دی، په نیمه کې به یې پرېږدي.

ټولو مزدورانو او ډریورانو د دې خبرې سره په زوره وخندل، یوه وویل:

- دا امریکایي خو څه د کامې د بند په پروژه کار نه کوي، چې نیمګړې به یې پرېږدي.

دا وخت زموږ یو ملګري چې د خونې نه بهر و، راته غږ کړ:

- راشه کنه یار دې غواړې!

را ووتم، ګورمه چې ویلیم په دغه یو ساعت تېرېدو سره پړقېدونکی مخ په موټر کې ناست دی او د لاس په اشاره وایي:

- راځئ کنه! چې پاتې کار خلاص کړو

زه چې ورنږدې شوم، هغه وویل، رښتیا لمونځونه، ډوډۍ، چای هر څه وشول؟ ـ هو، ډېره مننه!

ما ور ته وویل:

څنګه تا هم لمونځ وکړ...

نرۍ مسکی شو، ویې ویل:

دومره ژر خو مې مه ملا کوه او نه څوک کېدی شي

د ټانکر، ګرېډر او رولر چلوونکي مې له ځان سره واخیستل او د کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحې ته روان شو، چې ورسېدو، ویلیم وویل:

- ته اوسه زه راځم

- ډېره ښه ده

کار مو پیل کړ خو امام الدین ووې، صیبه که ستا اجازه وي زه به لږ دا ټانکر را ډک کړم.

- ښه لاړ شه

ولاړ، ډېر ساعت ورک وو، دلته داود پخپل ګرېډر کار کړی ؤ او رولر ځکه پرې نه شو ګرځېدی چې اوبه پرې پکار وې، دغه دی غرار شو او په ګوډ راواوښت. وا لېونیه دا چېرته ورک شوی وې. ژر ژر یې اوبه ایله کړې او کېسټ یې په درز چالو کړه. په وخکو کې هم خاندي. هسې خو په چالاکۍ کې یې نمبر وړی ؤ، اوبه یې واچولې د رولر نمبر شو. دواړه غاړې ته ودرېدل خپلو کې سره پوسېدل زرګونونو لوټونه یې سره اړول، زه پرې شکي غونډې شوم، ورغلم، شکي شول چې ګونډې پرې پوه شوی یم. ما ته یې هم ژر دوه زرګونه په جېب کې راومنډل ما ترې په اړه پوښتنه کوله چې له شا څخه یې ژر ریډېبول را ته خلاص کړ په دې سره یې زما فکر اړول غوښتل بیا مې ځان جوړ کړ څو پوه شم چې دا لوفري له کومې.

ژر یې سیګرټ را ته بل کړ را یې کړ، داود له ده څخه ډېر ناز پر ما لیده. لاس یې پورته وارتوه له اوبو یې غړپ وکړ ویې ویل، مړه ته دا نه پېژنې نمبر دس حرامي دی، تېل یې خرڅ کړي په دې سره په خټ خټ وخندېدل. وا هلکه که ګیر شئ؟

- ستا دوا (دعا) پکار ده. پخپله یې راکوي را ته وایي څه د جېب خرچه دې وکه.



داسې شبېه به نه وه چې د دې دواړو به جامې (خولې) دمه وې هر وخت به ور سره راز راز خوراکونه، بسکټ او... وو.

نه پوهېږم چې له کومې او څه ډول به یې پیدا کول، کوم چا امریکنې یې په اړه شکایت هم نه درلود او کار خو به یې لکه د خامار په یو غړپ کاوه، هر څومره ډېر کار چې به و، ښه په نره او ذمه وارۍ سره یې تر سره کاوه. ځکه نو چې له هر چا به یې څه غوښتل، نا به یې نه شو کوی، بلکې پخپله به یې ور ته د موټر سیټ له راز راز نعمتونو ډکاوه.

***

رخصتۍ ته نیم ساعت پاتې ؤ، خوله مې وچه شوې وه، یو امریکایی سپین موټر په موړ راواوښت، هر موټر چې به را ته په ورو کېده به، ځینو به سلام کاوه او ځینو به شاباسی هم ورسره غوټه کړ، په موټر کې یو هلک او یوه نجلۍ وه، له سلام وروسته مې ترې غوښتل چې اوبه راکړې، خو په موتر کې ناستې نجلۍ چې مې خولو ته وکتل اشاره یې وکړه، ورنږدې شوم، توره ښیښه یې کښته کړه، له دننه مې یخه هوا په مخ راغله.

په نرۍ خندا یې وویل، دا واخله اوبه، دا شربت

مننه، ژوندۍ اوسې

سم له واره مې د اوبو بوتل په سر واړوه، څو چې مې له خولې لرې کاوه، له شا راپسې په خوږ غږ په امریکایي ژبه اواز شو:

- دومره تږی؟!

په حیرانۍ مې داسې چې بوتل مې لا په خوله ؤ شاته وکتل، ګورم چې مېګن ده، لاس یې راوغځوه، ما هم لکه د وارخطا لکه څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریاب اخیستی وي، خپل لاس په تادۍ ور اوږد کړ، ما د هغې او هغې زما لاس سره ښه زور کړل، په خندا شوه، وی بس دی هن، ژر مې لاس ایله کړ، اوس یې ګلابي حسن نورې کانې کولې، لکه چې تازه له خوبه راپاڅېدلې وه، لاسونه یې یخ وو.

پخپله یې وویل:

- ښه هلکه! ویده وم، ډېره نا ارامه وم، اوس مې ولمبل اوس ځان ارام احساسوم او بیا چې ته راسره یې نو ډېره ارامه یم، باید وړاندې راغلې وای، خو نه مې غوښتل ته مې داسې وګورې چې...

مایې خبره ونیوه

*د رحمن په عاشقۍ کې کمی نشته*
*نو بیا ځله ائینه کې ځانله ګورې*

دا بیت چې مې ورته وژباړه، ډېر یې وخندل، د خندا نه وروسته داسې چې د خندا څپې یې ورو ورو د مخ له ساحله ټولېدې، وویل:

زه خو یو ستا مینې او د مینې نه ډېر د مینې په پوهېدو حیرانه شوم او بل ستاسې ژبې ته چې تاته یې څومره ډېر شعرونه په یاد دي.

- ښه، چېرته ځې؟

- چېرته به ځم، همداسې راووتم، په خېمه کې تنګه شوم، ښه شوه چې ته مې ولیدې، ستا لیده مې هم یوه بهانه وه، چې بهر راووتم.

هغه چې د دندې وخت یې پوره شوی و، نو د دریشۍ پر ځای یې نرۍ لباس په تن کړی و. د سرک بلې غاړې ته له لرګي جوړه یوه کوټنۍ وه، سیورۍ و، ما ورته وویل، راځه دلته لمر دی، هلته به کېنو. نه پوهېږم په کوم زړه مې ور ته دا خبره له خولې ووته، نرۍ مسکۍ شوه، سمه ده...



خونه کې د لرګي چوکۍ وه، پر هغې کېناستو، داسې چې مخ د سپین لمر پلوشې خړولې، په سیوري کوډله کې یې رڼا جوړه کړې وه. ګېډۍ زلفې یې چې، شا ته تړلې وې، ترې ښکاره شوې سپینې دنګې غاړې یې زړه ډوباوه. ډول ډول ستاینې او مننې له قدرت څخه په زړه کې راتلې...

*قربان شم له پستو لاسو د هغو ملایکو*
*چې ستا یې له مرمرو نه تراشلي دي لاسونه*
*زه ترې وم، دوی لپه شول، له سپینو اوبو ډک شول*
*د ژوند په نامه وایم چې دې ښکلي دي لاسونه*

زما لاس یې پخپل سپین لاس کې کېښود، خپل بل لاس یې پرې داسې کېښود چې د مینې په ډېرو تودو کې مې د لاس یخوالی احساس کړ. بیا داسې چې زما لاس یې په خپلو لاسونو کې واړوه، په زړه سوي یې وویل:

- لمر دې لاسونه تور کړي

- هو! خو څه خبره نه ده، ژمي کې به بېرته سپین شي، غلې شوه بیا یې شنې ښورې سترګې راواړولې ویې ویل:

- له ډېرو سپینو لږ غنمرنګي ښه وي

زما ویلو ته یې په خپله خبره کې ځای نه و پرېیښی، غلی شوم.

هغې له نېکر شا ته جېب نه د اوبو نیم بوتل راوکېښ، یو څه یې ترې څښلې، ما ته یې ونیوه...

- هن وړاندې هم ډېر تږی وې، ما ورته وویل، که دا اوبه مې وڅښلې نو به ټول عمر کې تږی نه شم، خو غواړم دا اوبه له ځانه سره یوسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې؟
- زمونږ په دې ټولنه کې داسې عقیده هم شته، چې د ځینو ناروغانو لپاره اوبه دمېږي او بیا لږې لږې ورکول کېږي. زه هم ستا د خولې دا اوبه وړم او داسې ځای کې ږدم چې یوازې زه یې ګورم.

هغه پورته شوه، زما سر یې پخپلې غاړې پورې جوخت کړ اسوېلی یې وکړ، ویل دومره دې خوښه یم!
- هو! نه پوهېږم، خو ډېره مې خوښېږې.

د مننې په ډول یې یوه شېبه خاموشي حاکمه کړه، وروسته یې د تلو وویل، زما مرۍ وچه شوه او په نیولي غږ مې ورته وویل:
- ته ځې!

هغه راپورته شوه، نور یې هم غریو نیولی کړم.

*ګوره سترګې چې مې ډکې ډکې کیـږي*
*نوم د تګ په خوله وا نخلې باران راغی*

هغه لکه زما په وجود کې چې یې د خپل تګ له امله راپیداشوې ناارامي درک کړې وي، د کلکې ژمنې په توګه سترګه ووهله او په خوږه خوله یې راغبرګه کړه:
- خامخا وینو، سمه ده! لاړم...

هغه روانه شوه، تر ډېره مې ورته لیدل چې له سترګو پنا شوه، وخت هم پوره شوی و، کارګرو ګاډي درولي وو، زما په تمه وو.

***

معشوق استاد راغږ کړ:
- صیبه ځنګه مرکه خلاصه شوه!
- هو دا دی ځو، خو چې ویلیم راشي



لږه شېبه وروسته ویلم هم راغی او له ورایه یې پر شونډو خندا خپره وه، نه پوهېږم، چې دی ولې او ځنګه زموږ له هرې لیدنې خبرېده. په هر حال! موټر ته وروختو، له دروازې چې راووتو، لاس یې وښوراوه، ویل ښه شپه!

هره شپه مې نوره پسې سختېده او اوږدېده، سړی چې ستړی شي خوب وکړي دمه شي، خو زما سترګو نور خوب نه پېژانده. د هغې د خپلولو او یو ځای سره کېناستو او ان مینې ارمان پسې واخیستم، داسې چې دغې ارمان یې ورځ تر بلې زبېښلم. کله به تر سهره ویښ وم او لکه د بې وسه به مې له خولې زګیروي واته، کله به مې اسمان ته وکتل غریو به ونیولم، خدای ته به په زارو شوم.

*په ویر په سرتوري تقدیر وارخطا شي*
*الله دې زما که اذان دی جانانه*

کله به مې له ناکامه زړه او ذهن د مشورې او سلا لپاره د یو څو شېبو پورې یوه خوله شول، خو چې به و نه شوه لار به یې بېله کړه او پخپله خپله مخه به شول، دلته به یې زما ستړی وجود نور هم پسې ذرې ذرې کړ، شپه به کال شوه او د هغې غم به نوره هم پسې سخته کړه.

کله به داسې وخت راغی چې په ورځو ورځو به مو سره و نه لیدل، خو هر دیدن به را ته د سلامت ژوند له بیې کم نه ښکارېده.

دا ځل مو کار په هوایي ډګر کې وتلې ویالې په سر د سرک ایستوو، باران شوی و، هوا برابره وه او سګریټ په لاس د هغې لار په څارلو وم، دې وخت کې بیلډوزر اوسپنه ماته کړه، ورغلم ډرېور بله لرله، د هغې په جوړونه لګیا شو. زه هم ورسره بوخت شوم، دې کې نرۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسته، خوږه او زړه باغوونکي خوشبو مې هوا پر مخ تېره کړه، ور سره یو د انسان سیوری مې له مخه تېر شو.

ومې کتل، هماغه دنګه ښاپېرۍ وه، تور اوږد ټوپک په غاړه، خولۍ پر سر، اوږده عسکري بوټان په پښو، نېغه روانه وه.

ما پرې غږ کړ:

مېګن!

مېګن مخ راواړوه، د تېر په څېر نه موسکۍ شوه او نه یې کومه خبره له خولې وایسته، بېرته یې مخ واړوه او سمه روانه شوه.

دلته یې زما دزړه په اسمان دشکونو او راز راز اندېښنو وریځ راخوره کړه، ټینګ نه شوم او تر شا یې تر یو ځایه پسې شوم، خو نه مې پرې غږ کاوه او نه کوم بل حرکت.

یو ځای داسې راغی چې هلته نور افغان کاریګر او سپین ږیرو تر څنګ امریکایان هم وو، په منځ کې یې تېره شو، ډېرو پسې ورمېږونه واړول او سترګې یې پسې ووتې او چې به هر چا ولیده په زړه به یې یوه شنه تغمه د اوف او آه لکه د تالندې برېښنا زغلېدله، خپله مېګن هم ښایي په زړه کې د دې لنډۍ مفهوم ته نېږدې پوهېدلې وي چې:

*دا خپل ښایست را پورې اور شو*

*تنکي ځوانان راپسې مري خونکاره شومه*

په هغې پسې زما په ورتلو هم پوه شوې وه، ځکه هر څو ګامه پس به یې داسې راکتل، لکه نه چې راګوري، خو چې خوند یې و نه کړ، ترې راستون شوم او په شا به مې کله کله پسې مخ واړوه که راوګوري، خو څنګه چې وه هغسې روانه روانه وه...

کرۍ ورځ مې ناکراره تېره شوه په سر مې درد شو، امریکایي زلمي



ویلیم نن په خپل ځای بل همزولی رالېږلی ؤ، ما ترې د رخصتۍ اخیستو وویل، هغه همدومره وویل:

- ډېر ناروغه یې؟

- هو! سر مې خوږېږي.

- هن دا اوبه وڅکه، ښه کېږې او کنه چې خپل کلینیک ته دې بوځم!

غلی شوم، ورځ مې بې اوبو او بې کلینیکه تېره کړه، درخصتۍ وخت پخپله راغی، د نور کله خلاف چې له هوايي ډګر نه وتو ته به مې زړه نه کېده، نن د هغې ځوانې شهزادګۍ چلند داسې حد ته رسولی وم، چې د هوايي ډګر لومړۍ دروازې ته مې پښې بې واره یوه له بلې وړاندې کېدلې.

له هوايي ډګره په وتو نېغ انټرنیټ کلب ته ولاړم، هلته هم له بده مرغه برېښنا نه وه، تر ناوخته منتظر وم، اخر برېښنا راغله، خو ماښام ورځ وژلې وه. کمپیوټر ته کېناستم غوښتل مې هغې نه د تېرې ورځې د چلند په اړه وپوښتم، چې ومې لیدل په ان باکس کې مې دوه نوي پیغامونه وو، لومړی مې یې هغه یو ژر خلاص کړ چې ګورم د مېګن برېښنلیک دی، پیغام یې زړه وړونکی ؤ، خو چې به مې د هغې په نوم سترګې ولګېدې...

مضمون که ښکلی نه دی خو عنوان څومره ښایسته دی

ای ښه هلکه!

ته به خپه شوی خامخا یې! ستا په زړه کې به ډېر څه راغلي وي، لومړی خو ښښنه غواړم او بیا واوره چې ولې مې در ته سلام و نکړ، خیر دی زما خبرې په سړه سینه ولوله، دا ځل مې له نوي برېښنلیک څخه پیغام درولېږه، خو اوس د هغې له وضاحته تېرېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نن د يو تورپوستي امريکايي لخوا خوابدې هله شوم چې ما ته يې وويل، زما دوسته شه! خوښېږې مې.
ما ډېره بده وګڼله او په ټوکه مې واخيسته، خو هغه رښتيا ويل، هلته زموږ په قانون کې دغه ماده ور زياته شوې وه، وروسته چې له حقيقت څخه خبره شوم هيڅ مې نه شواى کړاى.
ستا سيورى به مې مخې مخې ته کېده او بل خوا هغه بدرنګه وحشي څېره، ته ووايه څنګه وکړم؟
پوهېږم چې ته به يې بده ګڼې خو زه هم د خپل زړه واکداره يم، داسې به يې د مينې تر سينده پورې باسم، چې په اوبو به يې شونډې هم لمدې نه شي، خو کاش چې داسې هيڅ نه واى شوي، تا ته مې څکه خبر درکړ، چې که سبا يې را سره ووينې هسې نه زړه دې مات شي. اوس مې مشرغواړې، نورې خبرې به بيا وکړو.
سبا ستا په تمه
مېګن
ستا څوانه شهزادګۍ
د فکر او انديښنې په دوه لارې کې پاتې شوم. تر ډېره ګوته په غاښ، کمپيوټر ته غلى ناست وم او پيغام مې ور ته بيا بيا لوسته...
دلته زما په زړه هغه د انديښنو او شکونوغرونه ورو ورو ويلي کېدل.
د هغې د مينې څپې مې نورې هم په زړه کې په شور شوې، زه غريب بې وسه او هغه د نړۍ د پرمختللې څمکې ښکلې ښاپېرۍ او بيا دومره زړه خوږې غيرت او ننګ...
دلته د قدرت مرسته د ستايلو وه، هغه لارې چارې چې زما له تصوره هم لېرې وې، پخپله به مې سترګو ته غوړېدې او د مېګن مينې او



خواخوږۍ خو رانه د څمکې د سر خان جوړاوه، کله کله به دومره غره شوم، چې د نورو مينه به را ته هسې ټوکې ښکاره شوې.
کور ته روان شوم، نن شپه مې حالت ښه و، خبرې مې هم وکړې، د نورو شپو په څېرسم له واره بام ته و نه ختم. د کور غړي حيران وو، يوه ويل نن دې څنګه شعر جاري شوى، نور کله خو سم نېغ بام ته پورته کېدې.
د هغې خبرې مې له سترګو پرده لېرې کړه، خو د اوس لپاره مې په ژبه څواب نه جوړېده او يوازې په تشه يوه خوله خندا ترې روان شوم.

***

پاس اسمان نن ډېر رنګين ښکارېده، ما سره چې په ذهن کې د خپلې څوانې شهزادګۍ کوم تصوير و، د هغې په سيالۍ کې سپوږمۍ د خپل حسن زور ښکاره کاوه خو هڅه يې بې څايه وه، ما ته به ورپورې خندا راغله، کله به مې پرې زړه خوږ شو، مخ به مې ترې واړوه، په بله ډډه به شوم... نه پوهېږم څنګه او څه وخت خوب راغلى ؤ، خو سهر مې څان ښه احساسوه، لکه سړى چې له ښې سترې وروسته دمه شي.
هو! د نور کله په څېر مې سترګې سرې او سترغلي له شوګير څخه نه وو پړسېدلي. ښيښې ته مې وکتل څان را ته ډېر ښکلى ښکارېده او ولې به ښکلى نه وم د چا په سترګو کې اوسېدم.
په تادۍ باندې له کوره ووتم، هوايي ډګر ته په رسېدو مې وليدل چې ويليم لومړۍ دروازې ته راغلى دى، له ورنېږدې کيدو سره يې وويل:
- السلام عليکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی ؤ لا یې په زور زېر الفاظ او کلیمات نه وو زده کړي، بیا یې
وویل، څنګه پرون دې په سر درد ؤ؟
ما ته مې ملګري وویل، اوس څنګه یې؟
هغه ته مې په اوږه لاس کېښود، مننه مې ترې وکړه، هغه وویل،
خلک په کتار کې ډېر دي، زه او ته به په لنډه لاره ولاړ شو.
سمه ده زه یې له ځانه مخکې کړم او له سلګونو خلکو یې تېر کړم،
په کتار کې مې یو هم خپل کس و نه لیده، هغوی چې له ما سره وو
ټول دننه تللي وو، ویلیم وویل:
- ملګریه! نن به زه، ته او هغه ((مېګن)) ډوډۍ یو ځای خورو
- هن، رښتیا وایې!!
- هو! بېګا یې ما ته وویل، چې ښه هلک سره را له د لیدو زمینه برابره
کړه.
ویلیم په رتبه کې تر مېګن مشر و او دا صلاحیت یې درلوده، چې
سره وګوري، کیني او خبرې وکړي.
ویلیم ته مې له دې وړاندې د هغه په وینا یو ساعت او یو لاکټ د
هغه د مېرمن لپاره تحفه راوړي وو. نن یې را ته له غوږه تېره کړه
چې ډېر یې خوښ شوي.
ما ترې مننه وکړه، هغه وویل:
- څنګه مېګن ته به دې هم څه راوړي وي؟ ښه ده لومړی یې زه
وګورم.
ما ورته کړه:
نا، دومره زړه مې نه دی کړی او څه چې مې کړي هغه مې هم په
خوارۍ پرې منلي.



هغه غلی و، خو زه یې د اصلي خبرې راپورته کولو ته رسولی وم، نو
مې ورته وویل:
- خو ویلیم!
- وایه! مهرباني
- هغې ما ته بېګا پیغام رالېږلی و
ټول مې ور ته په ټکي - ټکي تشریح کړ.
نه پوهېږم، د ویلیم تندی ولې ګونځې او ټنډه تروه شوه، یوه شېبه
غلی شو، بیا یې وویل: که هغه وغواړي تا له ځان سره امریکا ته
بیولی شي او د ګډ ژوند پرېکړه هم کولای شي.
زه رابیداره شوم، ومې پوښت:
- هغه به را سره دومره اوږده وپالي؟
- ضرور، خو په یو شرط چې مینه د زړه له تله وي
دلته نو نری مسکی شو ویې ویل:
- که چل در سره وکړي، بیا به څه کېږي؟
ما وویل:
- هو! هر څه کولی شي
بېرته یې خبره له ټوکو را پېله کړه:
نا دومره ظلم به نه کوي
هغه روان شو، ماته یې وویل، ته لږ ودرېږه! زه موټر راوباسم.
له پارک څخه یې موټر را وویست، خپل ځای ته لاړو، دوه موټر
چلوونکي یې پاتې کړل او نورو ته یې د کېناستو وویل، لومړی یې
ورته د کار ساحه او د کار طریقه وښوده او بېرته یې راوستل، چې
مشینونه له ځان سره واخلي او د کار ساحې ته ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلیم وویل، راځه تر هغې چې د دوی د مشینونو هوا پوره کیږي او د کار ځای ته ځي، ملګري ته دې ووایه چې ستاسې چای وڅښنو.

- ولې نه

باغچه ګل استاد په چای کې ماهر او مسلکي ؤ، زما خونې ته مخامخ خونه د هغه وه، ویل صیبه زه به ښه زیږ چای درته تیار کړم.

چای تیار شو، موږ خپلې خبرې کولې، چای مو په خبرو خبرو کې وڅښنه، د ویلم نه مې یوه خبره هم په زړه پټه کې نه شوه ساتلی.

زما د خپلو اندېښنو بیا بیا یادولو او په اړه یې د هغه راګرځولو ترڅنګ هغه ته د سر په کاسه کې په کراتو، کراتو اوبو ورکولو سربېره یې کله هم راته تندی نه و تریو کړی او په سړه سینه به یې ځوابولم او ډاډه کولم.

***

هغه زما او د مېګن ترمنځ د پل په څېر و، په خبرو خبرو کې ور ته مخابره وشوه، خولې یې پاکې کړې، خولۍ یې له ځمکې پورته کړه، د الوتکو کېناستو لیکې په لور روان شو، هلته یې موټر یوې غاړې ته ودراوه، ټوپک یې اوږې ته کړ، ښه چې نږدې شو یو لوړ رتبه مشر یې ولاړ ؤ، له سلام وروسته یې ور ته امر وکړ، چې دوه فرشي موټرې راوله، له هاغه الوتکې سامان په کې واچوه او خوړن ځي ته یې ولېږه.

بیا د الوتکې خوا ته راغلو، د سامان کښته کولو طریقه او ترتیب یې ور وښودل، بېرته ولاړ و، موټرې مو راوستې او هماغسې مو وکړل.

د همدغه پټۍ یا پخې (لیکې) په غاړه به هغه هیلوکوپترې ودرېدې، چې کار به په کې وو، یانې کوم ځای به یې مات ؤ، هغه به یې



جوړوه.

موږ په همدغه غاړه روان وو، چې یو مشر امریکایي راغږ کړ، ودرېدو ویل یو ټانکر اوبه پکار دي، دلته یې واچوه، ډېره دوړه ده، کار کوو.

ویلیم ما ته وکاته، ما ویل، زه به یې راولم ته څه، هسې هم ځای نږدې دی، هغه خوښه کړه.

ولاړم ټانکر مې راوست او ډرېور ته مې لارښوونه وکړه، زه ورته کرار ودرېدم، شا ته مې ناڅاپه یو درب شو، چې ومې کتل نجلۍ پیلوټه وه، له خندا شنه شوه.

- ډېر ووېرېدې.

زه ورته یوازې مسک شوم، هغه د هیلوکوپټر دننه نوته، ما اوږده ساه واخیسته، هغه له وروسته د یوه قوي نارینه په څېر ښکارېده، خو چې به مخامخ شوه تعجب به سړي کاوه. مشر امریکایي راغی کوم چا چې را ته د ټانکر ویلي وو، بلا شربتونه په لاس راورسېد، ویل دا واخله. پیلوټې هم د څه راوړو اشاره کړې وه خو ده پوره کړل، درې واړه ودرېدو او د اوبو له شیندلو څخه خوند اخلو، خو زه په زړه کې د ویلیم د وعدې پوره کېدو په انتظار یم، د دوی کار پوره شو، ولاړو دغه دی ویلیم هم راورسېد، ویل زه ځم ته له یو موټر سره هلته راځه. ډېر په بېړه یې موټر راتاو کړ.

موټر مې له ځان سره واخیست، د پخې لیکې په کوز سر چې راتاو شو را ته په سل مترۍ کې د دوو کانتیرو په سر دوه امریکنۍ تر سترګو شوې، داسې چې د سیوري لپاره یې نرۍ چوپال وهلی او یوازې ډېر معمولي ځایونه یې پټ کړي او نورې سپینې وړانګې داسې چې تورې عینکې یې په سترګو وې، پرتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معشوق استاد ته مې وویل:

- استغفرالله

نږدې ۋ چې موټر ترې بلې خواته ولاړ شي، ژر يې بېرته کابو کړ، ودرېده، نجونو چې وليدو ژر يې بنينونه پر خپټو کش کړل.

***

غرمه راورسېده کار مو خلاص کړ، معشوق استاد ته مې وویل، ته ځه زه له ویلیم سره ډوډۍ خورم.

- ښه سمه ده.

موټر ته په ختو یو څه له ځان سره وبوږنېده، بیا مسکی شو، ورغلم، څنګه مسکی شوې؟

- هسې مړه! دا پېرنګیان هم خدای ښه ښایسته پیدا کړي دي.

ما ور ته وویل، پیرنګیان به یې انګریزانو ته ویل، دا خو امریکایان دي، ویل څه پرواه کوي، یو شان بېزوګان دي.

یوه شېبه ور ته غلی وم، بیا مې ورته په مات زړه وویل، استاده! حوصله پر ځای کړه، د دوی همدا دنیا ده او همدا مزې دي او رښتیا څه مزې دي، له هغه لس زره کېلومتره لیرې دنیا نه راغلي دي، شپه ورځ کار، له ټوپک او مرمیو سره لوبې، سختي او درانه بارونه ګرځول، دا نو څه مزې دي.

دې سره معشوق استاد روان شو، لیدل مې چې ویلیم ډېر په تېزه راروان و، په تمه وم، چې خوا ته به مې ودرېږي، خو له ما هم تېر شو وړاندې یې کلک بریک ونیو، بېرته په شا راغی او خوله یې له خندا ډکه وه.

اشاره یې وکړه:



- راخېژه! بیا یې موټر ډېر تېز راتاوکړ او مخ په خوړنځي روان شو. خوړنځي ته چې راورسېدو موټر یې په پارک کې ودراوه او ننوتو.

قانون دا ۋ چې هر امریکایي به یو لوی پټنوس چې پکې بېل بېل کورونه وو راخیسته او د خپلې خوښې څیزونه به یې پکې اچول. دلته چې ما دومره ډېر شیونه ولیدل هغه د مرغیو د پیو خبره مې رایاده شوه چې یو د مرغۍ پۍ نه وې، نور هر څه وو. رښتیا هم هر څه وو، اشپزان یې اکثره افغانان وو، ما ترې پوښتل چې حلال خواړه راوښایه، کور یې ودان هماغسې یې وکړل.

ویلیم چې له وړاندې ځای او وخت ټاکلی و همالته کېناستو. مېګن (زما ځوانه شهزادګۍ) له وړاندې ناسته وه، ډېر وږی شوی او تږی شوی وم، خو چې مېګن مې ولیده...

*دومره زه یم یاره ستا د دیدن تږی*

*چې دې مخ ته کړم نظر اوبه اوبه شم*

لوږه او تنده را څخه سم له واره والوتل هغوی ډوډۍ وخوړه ما هسې څکې څکې وکړې، مېګن به په نرو سپینو ګوتو مړۍ داسې خوړه چې به یې مخې ته هر څومره موړ ناست وو په نورو خوړو به یې لاس پورې کاوه. ویلیم له ډوډۍ وروسته راخیستي شربت څخه سر خلاص کړ، زما او د هغه نظر سره غبرګ شول، بوتل یې پر مېز کېښود لږ غلی شو او بیا یې مېګن ته مخ واړوه:

- زه ځم، بیا بېرته راځم، تر هغې خپلې خبرې وکړئ. مېګن ما ته وکاته، ویل اودې لیده، ویلیم ته یې په پسته لهجه وویل:

- مننه!

مېګن څنګل په مېز کېښوده، زما او د هغې د خولې او غوږونو تر منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاصله دومره وه چې سره د ساه وړم مو پر یو بل لګېده. د قاب کاشوغه یې په کیڼ لاس پر مېز ټکوله، یو څه سوچ کې شوه بیا یې سر راپورته کړ، په سړه ساه یې وویل:

- ښه، ښه هلکه!

له ټوکې وروسته یې غاړه پورته کړه

نه پوهېږم چې ولې مې زړه هغسې نه دی، لکه له دې وړاندې چې و. زه ور ته خاموش شوم

بیا یې وویل، زموږ خلک ډېر ازاد دي، خو زه ولې هغسې ازاده مرغۍ نه یم او لکه په یو زندان کې چې بنده یم، دلته مې له دندې روح او زړه دواړه نور ستړي شوي دي.

بیا لږه په فکر کې شوه، ژر یې وویل:

- هو ربښتیا، هغه د توریوستي فکر مه کوه، پر هغه بحث نه کوو، څنګه چې مې درته ویلي هماغه شان ور سره کوم.

خو اوس را ته ووایه؛ چې دلته زما لږه موده پاتې ده او له دې ځایه ځمه، ځکه مې دومره وختي خبر کړې، چې ستا په حالت وپوهېږم.

ما ور ته زړه غټ کړ، پاکه مې ور ته وویله:

- زما خوښه یې او مینه در سره لرم، ته که دلته یې که هلته او یا په بل هر ځای کې زما د زړه په ژورو کې به دې د مینې او یادونو کور ودان وي، ستا تله به زما په زړه کې ستا مینه مړه نه کړي او زه به ټول عمر د خپل زړه په هدیره کې ستا د مینې په مزار د اوښکو ډیوې بلې ساتم.

زما خبرې یې راپرې کړې:

- زه پوهېږم ځکه خو درسره دومره اړیکه ساتم او په دې چې ته زما



هم ډېر خوښېږې.

یوه شېبه چپ شوم، بیا مې وویل:

- نو چې داسې ده لار راوښایه؟

هغې راته خپله بې وسي رامخې ته کړه، ویې ویل، امریکنی نجونې او زلمي د شوق او ذوق له مخې دلته راځي او ډېر له مجبورۍ، چې یوه یې زه هم یم. زه مې مور او پلار ډېره کوچنۍ پرېښې یم، په سختو تنګو کې رالویه شوې یم...

دلته د مېګن غټې سترګې په اوښکو ډنډ شوې، ژر یې اوبه ور پورته کړې، ساه یې واخیسته، بیا یې وویل:

- نه غواړم چې نوره وځورېږم، خو څه وکړم، څومره چې د ښه ژوند په هیله یم هومره له ګړنګونو لوېږم...

په مخ را ماته اوښکه یې په ګوتو ورانه کړه، نوره داسې غلې شوه چې ماته یې نه رالیدل

ما یې د ډاډه کېدو له پاره وویل:

- ای مېګن! ته خو ډېره شوخه او خندنۍ وې، اوس دې څنګه هغه هر څه هېر کړل. حوصله دې برابره کړه، په دې ژورو او لوړو پسې ضرور هواره وي.

غلې شوه، بیا یې وویل، هسې نه خلک متوجه شي، نورې خبرې به بیا وکړو، خو دا خبره یاده لره چې ته ښه یې ته د هر چا خوښېږې.

زه یې خوشاله کړم، څه مې ویل، خو هغه راوړاندې شوه:

- ښه، نو ښه هلکه راځه دغه پتنوس دې در سره راواخله، په دې بله لاره وځو.

خالي پتنوسونه به په کثافت دانو کې اچول کېدل، بهر راووتو د لرګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړو اوږدو خونو په منځ کې دوه په دوه ورو ورو تر یو ځایه روان وو، داسې چې نه هغې څه ویل او نه خبرې کولې.
د بېلېدو په وخت یې را ته مخ راواړوه، ودرېده له مینې، درد او خوږو تودې شونډې یې زما پر وچو شونډو کېښودې، نرۍ مسکۍ شوه، د لاس په اشاره یې مخه ښه او د بیا لیدو ژمنه وکړه.

***

د تل په څېر مې ورته تر پناه کېدو پورې وکتل، باغ باغ راستون شوم، تر ډېره پورې مې نه څه خوړل او نه څکل او نه مې ورته زړه کېده.
ویلیم ویل، څنګه څه خبرې مو وشوې؟
- هو ډېرې او ډېره مننه له تا نه یار!
- نا هیڅ خبره نه ده
ویلیم په قد کې د چنارقدو ملګرو په کتار کې راته، دنګ نرۍ ځوان داسې چې له شوخۍ سره یې اخلاق او نزاکت هم بې بېلګې وو او زړه سوی خو یې داسې ؤ لکه دی چې پوځي نه بلکه د خیر ښېګڼې په کومه مؤسسه کې وي.
ورځ ډېره ښه وه ټولې کړنې زما له زړه سره سمې وې، د خپلې ځوانې شهزادګۍ د ناستې د اوښکو، سلګو او خنداګانو خبرې مې بیا بیا په ذهن او زړه راورېدې، د میګن د یادونو په همدې باران کې کور ته ورسېدم.
مور مې کټ د دیواله سیوري ته راوړ، دواړه ناست وو، مور مې وویل، زویه په دې کار کې دې څه پیسې درکوي نه؟
زه لږ رانېغ شوم، ولې په کور کې خو به څه کمی نه وي؟
- هو! زویه ځینې سوداوې تمامې شوې، ځکه مې درته یاده کړه.



دې سره ماته هم احساس وشو، چې د خپلې ځوانې شهزادګۍ په مینه کې مې د میاشتې پوره وتو او د بلې د څو ورځې اوړېدو ته هېڅ پام نه دی. د مور د رایادولو سره له کوره راووتم، دفتر ته چې ورسېدم رئیس چېرته روان ؤ، چلوونکي یې موټرغروه. له ستړي مشیو وروسته مې ورته وویل، که څه هم دوه درې ورځې اوښتي، خو زما فکر نه و اوس مې روپۍ پکار دي.
رئیس لومړی غوسه غوندې شو، بیا یې وخندل، ویل ورشه انجینیر صاحب به درته پیسې درکړي او لږ کار مې هم در سره ؤ، خو څه سبا به پرې وغږېږو، نور څه خبره نه وه، خو خارجیانو یوه بله پروژه هم رالېږلې، همالته په میدان کې ور سره هغه هم پیل کوو.
- سمه ده سبا چې راغلم بیا به خبرې وکړو، اوس ځم چې کور ته سودا یوسم
له هغه نه په روانېدو مې ښار کې سودا برابره کړه او د ماښام په خړو مې د کور لاره ونیوه.

***

اوږده شپه له میګن سره د تېرې ورځې کیسې پوره کولو په تمه تېره شوه او چې سبا شو نور هم په تلوسه کې شوم، څومره چې لا ر وهم هومره مې زړه د صبر واګې پرېږدي.
هوایي ډګر لومړۍ دروازې ته په سل مترۍ کې بلا لوی کتار د لویو ګاډو او کانتینرونو جوړ و. داود چې پرون خپل ماشین د جوړولو لپاره را ایستلی ؤ، شا ته بند پاتې و، زه یې چې ولیدم، ویل دا به څنګه شي؟
پلی روان شوم، دروازې ته چې ورسېدم، د افغاني ساتونکو مشر مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرى شوى و، ور ته ومې ويل، كه هاغه سړى مخكې را دننه كړې، منته به وي، هغه ويل يو څو دقيقې صبر دې وكړي چې دا راننوتي خلك او ګاډي تالاشي كړو، هغه به پسې راننباسو. مشر مې له داود سره مخ كړ او زه ترې ننوتم.

اكثره موټر چلوونكو به موټر د خرابېدو په بانه بهر ويستل، خو پټ به يې تېل له ګاډو خرڅول، له ټانكو نه به يې په پيپ ايستل او ځينو خو به پكې دوه دوه ټانكۍ لګولې وې او په داسې هنر به يې غلا كوله، چې امريكايان به هم پرې نه پوهېدل.

تنخوا به يې دومره وه چې ايله يې پرې پر دغه ډالري فضا او ګرانه ګرانۍ كې ځانونه ساتلى شول، خو چې مياشت به تېرېده، هر چا به ځان ته يو موټر درولى و.

هر څوك پرې له ورايه پوهېده، چې دلته يوازې په تنخواه څوك كار نه كوي او نه يې په تنخوا كار كېږي. سوله ساتي عسكرو هم ور سره لاس درلود او د چا خبره ګټې يې سره شريكې وې. نه يوازې تېل بلكه په هر څه چې به يې لاس بر شو اسره به يې نه كوله او په دغه لوبه كې هر مسلمان ور ګډ ؤ او داسې روا يې ګڼله لكه په جهاد كې چې يې غنيمت موندلى وي.

په هوايي ډګر كې دننه كارګرو به د نورو درغليو او غلاوو په څنګ د بهرنيو ځواكونو كارول شوي او نيمه كارول شوي وسايل، كمره، پلش، ميموري، كمپيوټر، د لرګيو تختې او ډېر نور وسايل بهر راايستل او هلته به يې په لوړو نرخونو په خلكو پلورل.

د دوى نه ډېرې ګوتې د هغو په غوړيو كې وې، چې ساختماني شركتونه او انجوګانې يې درلودې، دوى دننه په څو كلونو كې



دومره وپړسېدل، چې خپلې جامې پكې تنګې شوې، موټرې، كورونه، ملكيتونه او د ژوند ډېرې نورې اسانتياوې پيدا كړې.

په تېرو كلونو كې چې څومره پيسې افغانستان ته راغلي په دغه ډول لګول شوي، د يوې پروژې د لګښت نه به هغه اضافي لګښتونه ډېر وو، چې د پروژې پلي كوونكو ته به په واک كې وركول كېدل.

په افغانستان كې د فساد جرړې له همدې انجوايزم د لارې خورې شوې، غلا، درغلي او ټګي د دغه بازار يو معيار جوړ شو، بې له دې چې دننه په ښارونو او كليو كې يو ناانډوله اقتصادي وده منځ ته راغله، په كليو او ښارونو كې د وګړو ترمنځ څو طبقه ايز نظام ته لمن ووهل شوه.

په مكمله توګه داسې يوه خړه فضا جوړه شوه، چې هرڅه پكې د ګټو په بنياد وو، قناعت ورك شو. په ساختماني كارونو او پروژو كې داسې يو دود خپل شو، چې وطن سره د چل او دوكې نه پرته يې بله مانا نه درلوده.

د پروژو دوران يوه بله نادوده هم درلوده، هغه ډلې چې د وسله والو په نوم به جنګېدې، هغوى هم په لرو پرتو سيمو كې په پلي كېدونكو پروژو كې خپله ونډه غوښته، دې حالت به سړي ته د كونړ او نورستان د ګرانبيه ډبرو كانونه او د قربانيو غوښې وريادولې، چې په برخو به وېشل كېدې.

دننه په هوايي ډګر كې په سور لمر او ترخو دوړو سربېره، دغه راز كړنو او ځان ځانۍ څو واره دې ته تيار كړم، چې نوره دنده پرېږدم، خو د كورغم، يوازيتوب او نورو ستونزو به مې پښې وتړلې.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نرۍ اوسپنیزه جالۍ (لار) چې ور سم شوم میګن ولاړه وه او تور مشین یې په لاس کې نیولی او د دننه تلونکو کسانو سترګې ګوري.

ما ته یې پام نه و، له تالاشۍ وروسته ورننوتم، زه چې ورنېږدې شوم هغه په څه شي پسې کښته شوه، چې بېرته راپورته شوه زه یې نېغ مخ ته ولاړ وم. مسکۍ شوه، عکس چې یې واخیست په شونډو یې ژبه تېره کړه، ویل سبا جمعه ده او بله ورځ د مېلې ده، هلته به مېله کې وینو.

- سمه ده!

روان شوم، د هغې د لیدو خواږه ډېر وو، خو د بېلتون درد یې هم زما داسې ملګری و، چې درد یې زړه نه شو زغملی، خو به یې قدرتي خوشبويي زما د زړه او ځان پر بام داسې خورې وې، چې:

*څوک وایي بې رنګه یم او ټول رنګونه نـه لـرم*
*تاو مې له وجود دی لکـه زېـړه زرغونـه جانـان*

بیا لیدو او وعدې به مې ژوند نور هم بهار بهار کړ، هغه وېره او ګیله چې به مې له نصیب او ژوند څخه درلوده، د مېګن له ښکلې خولې راوتلې وعدې به بیخي رانه هېره کړه...

*قربان دې له وعدو شم زما عمر یې کـړو ډېـر*
*همداسې په نېټو پسې نېټې دي چې راځـي*

لا د کارت اخیستو مېز ته ولاړ وم، چې کارت واخلم او ووځم، خو امریکایي نه زما کارت ورک و، مخ یې د کارتونو خوا ته اړولی و، د نظر غټې عینکې یې پر سترګو وې.

زما ورته زړه تنګ شو، ورته مې وویل:

لکه چې نوی یې؟!



مخ یې راوګرځاوه، ویل هو! بیا یې را ته وویل:

د کارت شمېره دې څو ده؟

ما ویل، دومره...

بیا یې هم پیدا نکړ، ویل ته یې پیژنې؟

زما پرې سم له واره نظر ولګېد، هو هاغه دی

زما شاته نور کارمندان هم کتار ولاړ وو، په نمبر به کارت ورکول کېده. کارت یې راکړ، څنګ چې مې غاړې ته اچوه، یو دم د توپ ډز اواز شو.

په ډګر کې ځای پر ځای لګیدلي لوډسپیکرونو کې د لارښووونوغږونه پورته شول، زما تر شا ټول ولاړ کسان یې بېرته ستانه کړل او زه انتظار ځي ته ننوتم.

هلته ولاړو عسکرو مخابرې له بډو راوکښلې، خپلو مشرانو سره په اړیکه کې شول، افغاني عسکرو هم خرش پرش جوړ کړل.

زه چې له خپلو ملګرو سره په یو کونج کې ناست وم چې زموږ امریکایي هم راشي. هغه راغی، ما ور ته وویل، دا نور خو نه پرېږدي؟

ویل راځۍ هغوی به خپل کار کوي، بهر ته چې ووتو ربښتیا هم حالات ترینګلي ښکارېدل او فضا غمجنه او وېرېدونکې وه. ما ترې په اړه وپوښتل، خو څه یې و نه ویل، همدومره چې خیر دی.

نن ویلیم موټر ډېر په بېړه روان کړ ځای ته په رسېدو یې له واره د دوه مشینونو د ببولو وویل، چلوونکو ګاډي چالان کړل او ځان سره مو روان کړل، دا هغه ځای و چې د دغه ډګر پوله وه او مخې ته یې اغزن تارونه لګېدلي وو. په بل امریکایي اوږده فرش ګاډې کې خالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیسکوګانې راورسېدې، څلور پینځه عسکرو ژر ژر ودرولې او موږ ته یې د ژر ژر ډکېدو وویل. خاوره مو له ځمکې راپسټله او بېرته به همغه مشین په هیسکوګانو کې اچوله. فکر مې راغی چې دا ځای د دوی دفاعي ځای دی.

ډزې یو څه تم شوې وې، خو لکه چې د راتلونکي لپاره یې ځانونه خوندي کول، کار چې خلاص شو، ویلیم را ته وویل، دلته د تېلو لپاره ذخیرې راوړو باید چې ساحه ور ته بې خطره وي.

ما ور ته ووې ما خو فکر کاوه چې ګوندې...

خبره یې را پرې کړه، ویل نا! دا ډزې خو هر وخت کیږي د هغې لپاره موږ وسایل او چمتووالی په پام کې لرو.

اوس دا ډېر مهم ؤ ساعت لکه چې ناوخته دی. ځئ چې ځو ډوډۍ وخورو موږ چې ځان جوړوه، بیا په لوډسپیکر کې د لارو د تړلو غږونه پورته شول... ویلیم وویل، لږ صبر به وکړو، بې پیلوټه الوتکه پورته کوي.

زه حیران شوم، ورته مې وویل، نو الوتکه خو په ټاکلي ځای کې اېښودل کیږي چې له هغه ځایه یو دم الوزي، ویل نا د هر څه لپاره خپل اصول دي، موږ په هغې که نه پوهیږو خو ولې ډېره قیمتي الوتکه ده او دا په ریموټ پاڅول کیږي او له همدې څخه کنټرولیږي.

له کوم ځای څخه چې الوتکه راپاسل کېده او پاڅول کېده، هر څه زموږ پر وړاندې او له نږدې وو. له یو لوی تالار ډوله ګودام څخه چې له اوسپنیزو دېوالونو او چت څخه جوړ ؤ، په داسې حال کې چې هر ډول موټرې او پلې لارې تړل شوې وې له تالاره یوه کوچنۍ بې



پېلوټه الوتکه چې دوه امریکایانو ورسره نیولې وه مخ په لیکه ورو ورو راروان وو.

د اوسپنیزې پړوۍ په څېر جوړ کړې ټاکلي ځای کې یې ځای پر ځای کړه، بیا یې چالان کړه، ښه شیبه وروسته چې اواز یې ښه تېز شو او غوږونه یې نور کڼول، لکه مرغۍ چې د سړي له لاسه والوزي له خپل ځایه دغه شان والوته. ما په زړه کې وویل، خدایه! بیا به د چا خونې رنګوي...

له الوتو سره د لارو ایله کېدو اجازه وشوه او موږ هم روان شو.

تر خپل ځای پورې مې ذهن د بې پېلوټه الوتکې له بمبار او ورانیو سره روان و، په خبرونو سربېره مې له ډېرو خولو څخه د دغه بې اجله ناولې الوتکې په اړه نادودې اورېدلې وې، ځکه خو مې ترې نفرت او کرکه کېده. که څه هم دوی به د تخنیک او کمپیوټر خبرې کولې چې رسا هدف ولي، خو له ړندې بمبارۍ یې څوک نه شول منکرېدی.

خپل دمه ځای ته په رسېدو هم دغو فکرونو پرېښنبودم، په همدې فکر کې په خونه کې نه پوهېږم څنګه ویده شوی وم، ستړیا او اندېښنه چې ډېره شي خوب سړی وړي.

یو وخت قلندري استاد له غټې ګوتې وښورولم، صاحبه! ناوخته دی، ډوډۍ مو تا ته ایساره کړې، د لمونځ وخت هم دی، هسې نه هغه کافر راشي بیا چېرته که کار ته ځې چې...

***

نن ماښام کور ته له تلو وړاندې دفتر ته ورغلم، رئیس صیب ناست ؤ، خولې پرې راماتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې برېښنا نشته؟
- نه کنه مړه، دا د جنراتور والا دې خدای خوار نه کي؛ هر وخت وايي جنراتور خراب دی.
- بيل به مو نه وي ورکړی
- نا هلکه د بيل خبره نه ده

بيا يې خولې پاکې کړې، ويل څنګه ؤ کارونه!

- خير خيريت دی.
- څنګه امريکايان خو کوم شکايت نه لري؟
- امريکايان يې نلري، خو موږ يې لرو
- هغه څنګه؟

لږ مسکی شوم، بيا مې ورته ورو وويل، پخپله په يخو کوټو کې وي او موږ لکه مجرمان په تودو ورانو خونو کې، يو پکي غم که يې هم راته خوړلی وای ښه به وه، ډېره ګرمي ده.

ريس په دې خبره کې کومه دلچسپي وانخيسته، بيا مې ورته د پيسو وويل، چې مياشت پوره ده، که هغه راکړي.

انجينر ته يي غږ کړ، هغه ويل، پيسې ورځ دوو کې امريکايان رالېږي، دی دې هم وروسته راشي.

سبا ته جمعه وه او بله ورځ يې راته د تنخواه اخيستو وويل.

د مېګن راکړې وعدې سيورې ته به اوړيدم را اوړيدم، شپه تيره شوه او په يخو اوبو مې ولامبل، که ناراستي مې ورکه شي.

د دندې پر لور روان شوم، تر دروازې پورې په خپل حالت کې وم، خو چې د کتار انتظار ته مخامخ شوم ګرمۍ د خپل وروستني زور ازموينه کوله، چيرته يوه پاڼه هم نه خوځېده، تر دې چې زما نوبت



راته، اسمان کې وريځې غرونه، غرونه تر سترګو شوې.

دلته زما پر زړه د خوښۍ وريځې را خورې شوې او د چا ياد مې له سترګو باران راوټوکاوه. په همدې تلوسه کې وم چې ژر مېګن ووينم.

دوه ورځې جدايي چيرته زغميده، خو بيا هم تېره شوه، خو د لته د څو شيبو انتظار او تلوسه لا زوروونکې او بوږ نوونکې وه.

له تالاشۍ څخه تيريدل نه وو سم عذاب و خو ننوتم، مېګن ولاړه وه، له تود هرکلي وروسته يې راته د دود او اصولو له مخې د سترګو عکس واخست.

نه پوهېږم چې مېګن چا ته کتلي وو، چې د پاسنۍ شونډې او پوزې تر منځ مخ برخې ته نږدې يې تور خال وهلی ؤ.

زما ډېر خوښ شو په اړه مې يې ترې وپوښتل:

- ستاسې د رنجو خال نه دی، په قلم مې وهلی، څنګه خوند کوي؟

غلی شوم او په زړه کې مې په وياړ د تخيل په ژبه نرۍ ته وويل:

*خالونه په سپين مخ وهي شوخې نه ناخبره*
*د خدای په کار کې کار لري ګناه کوي کافره*

ويل څنګه غلی شوې؟

ما ورته وويل، زما په زړه کې چې څه تير شوهغه ستا په ژبه نشم ويلی، چې ته پرې پوه شې.

مشين يې بل امريکايي ته ورکړ، ويل ته راځه!

د خونې کونج ته ودريدو، وه ويل:

- اوس ووايه! هر څومره چې ويلی شې

ما ورته د پورته شعر مانا وکړه، شونډې يې زور کړې، لاس يې راوړاندې کړ، دا ځل يې د اوږې په ځای په مخ وړې وړې څپېړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړې او په خاموشه ژبه یې راته د تلو او هلته د لیدو وویل.

زه لا د کارت خونې ته نه وم ختلی چې را غږ یې کړ، ودریدم، هغه را ورسیده تیګا وهلې غوندې مې غوږ ته رانیږدې شوه:

نن د میلې ورځ ده، په یاد خو دې ده، سودا کوم، یو څه شیان دې هغه به راته واخلې.

- په سترګو، خو څو بجې راځې؟

د لږ فکر نه وروسته یې وویل:

- یوه بجه، یا لږ وخته به راشم

سره له دې چې دغه وخت زموږ د ډوډۍ او لمانځه وي، خو هغې ته مې ډاډ ورکړ.

***

ویلیم نن په ځنډ راغی، ما ترې وپوښتل، ویل یوه لیدنه مو وه او رښتیا نن کار کم دی، خوته به راسره یې.

ما ورته وویل:

- نن له مېګن سره ژمنه لرم

- څو بجې

- پوره یوه بجه

- ښه نو بیا خو بخت هم ښه کار کوي، نن تر دولسو کار کوو، ایسته ورځ تر رخصتۍ ستا ده.

- رښتیا وایې؟!

- ما نو کله درواغ ویلي؟

- مننه یار

- څه لوی کار خو مې نه دی کړی



زه روان شوم، هغه ته څه خبره ورياده شوه:

- هی، هی!! یوه پوښتنه کوم

زه ورستون شوم، مهرباني!

- په پښتو کې دې ته............ څه وايي؟

- په پښتو کې دې ته وايي (ډیره ګرمي ده)

په خندا شو، څو ځله یې تکرار کړه، اخر یې داسې وویل:

(ډیره ګارمي ده)

ما ورته کړه: ته پښتو زده کولی شې.

هغه وویل:

زما هم خوښیږي- خو زما د خونې ملګری چې د دندې ډیره برخه یې په شمال کې تیره کړې، د هغه فارسي خوښیږي.

ما ورته وویل:

د هغه لپاره فارسي ژبی ژباړن وګوره او ستا چې پښتو خوښیږي زما هم انګلیسي ستا لپاره خوښه ده.

ویل نا ـ د مېګن لپاره دې خوښیږي، دې خبرې سره ښه ډېر مسکی شو، بیا یې وویل:

راځه چې کار خلاص کړو

کار ته روان شو، د انتظار هر شېبه په ډېرې سختۍ تیریده، یو لور ته د مېګن د لیدو خوښی په زړه، زړه کې نځولم، له بلې خوا ساعت په لاس بیا بیا کتو سودایي کولم، هر څه چې وو، خو وخت هم صبر نه کاوه تیریده، دولس بجې شوې، تقدیر د مرستې زنګ ووهه، ولاړو ډوډۍ مې هسې د معمول په څیر دوه مړۍ و خوړه، مخ لاس مې پرېمینځل، جامې مې بدلې کړې او د امام الدین په ټانکر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروت سپرې مې هم وواهه...
ویښته مې لامده کړل او بیا مې ږمنځ کړل، د مېګن د وعدې سیورې ډېر یخ و او لیدلو خو یې بیل رنګ او خوند درلود، په کومه لاره چې میلې ته راتله ورته په انتظار ودریدم. له خوښۍ نه مې د وجود ټول غړي بیل، بیل ښوریدل، په زړه کې ورته د هرکلي او خبرو لپاره د الفاظو په ترتیبولو بوخت وم، هسې نه په احساساتو کې را څخه داسې کومه کلمه ونه ویل شي چې د هغې د زړه ماتي او زما د پیښمانۍ سبب شي.
په همدې کې وم، چې د انتظار لمن مې را ټوله شوه، مېګن ټوپک په غاړه او نیم لباس په تن له اوسپنیز دیواله را ښکاره شوه، میده مزل یې زړونه زور کول، داسې چې:

*په لاره ورو ځه پښې د پرېوځه*
*ستا د قدم لاندې مې زړه دی وبه چوینه*

د هغې په را نږدې کیدو سره مې زړه د سینې بریدونه نړول، خوښۍ او اندیښنې دواړو خپله وسه کوله، اخر د چا لیده او د کوم مخ دیدن و.
لا څو ګامه وړاندې وه چې راغږ یې کړ، مسکۍ وه، لاس یې پورته کړ:
- زه ښه یم، تاسو؟
- زه خو تر اوسه دومره ښه نه وم، خو اوس ډېر ښه یم
هغه رانږدې شوه، لاس یې راکړ، په شایې وټپولم، ویې ویل:
له چا ښه یې؟
- له ناروغۍ



یوه خوږه خندا یې بیا راډالۍ کړه، داسې چې په شا لاړه، د مرۍ رګونه یې وځلیدل، بیرته یې سر ښکته کړ، سترګو یې راښه شبنم وڅڅول، په خپل طلایي ویښتانو یې لاس تیر کړ او روان شو.
داسې خوښ، ازاد او بې پروا روان وو، چې فکر کېده د نړۍ کومه بله څنډه ده، ټوله لاره ورسره ښکلې ښکارېده، متوازن وجود، ښکلی مخ او د ښایستونو له ملکې سره یوځای د میلې په ور ورننوتو. ډېر خلک ورته هک پک شول، حیران به شول، له خپلې دوکانداری به بیزاره شول ان یونیم به پخپلو کې غلي غلي وویل: ـمړه! دا زموږ نو څه ژوند دی
یو نیم دوکاندار څخه چې به مو د کوم څیز په اړه پوښتنه وکړه، بې اختیاره به یې یو څه له خولې ووتل...
ننني دیدار څه بل رنګ او خوند درلود، هره خوا عطرینه، خوږه او زړه یخوونکې فضا بریښیده. یو دم مې فکر ته راغله، چې سودا ژر ژر وکړو او له دې ځایه ووځو، هسې نه پاتې سترګې چې یې دا نه ده لیدلې، له روزګاره پاتې نه شي.
په غوږ کې مې ورته وویل، په خوښۍ یې راسره ومنله، شیان مو واخستل، یو پلاستیک هغې او بل ما له سودا ډک روان کړل، بهر چې راووتو بټوې ته یې لاس تیر کړ.
- ماویل څه کوې؟
- پیسې درکوم
ما ویل نا خیر دی، ما ورکړې، هیڅ خبره نه ده، خو ټینګه شوه ویل، که ته همداسې کوې، نو بیا به نوره سودا له تا پټه کوم.
ځکه زه خجالت احساسوم، همدومره بس دی چې له ګرانۍ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژغورې...

ما ویل زه که درته د زړه خبره وکړم وبه یې منې؟

- ته خو یې ووایه!!

- نا لومړی ژمنه وکه؟

ښې او کین لوري ته یې ولیدل

- سمه ده

- مېګن داسې خبره ده چې څه زماپه وس پوره وي، ته په کې تینګار مه کوه او چې بیا نه کېده، تاته به یې وایم.

و یې ویل، سمه ده

روان شو- زما دمه ځای په لاره کې و، چې راورسېده هغې ته مې د دمې وویل، خو ویل نه ته له ماسره ولاړ شه.

ما ویل، هلته خو به یې څوک بده نه ګڼي؟

ویل، نه څه خبره به نه وي. دواړه روان شو، خیمې ته په ورننوتو دوه نورې امریکایي پیغلې خپلو کمپیوټرونو ته ناستې وې، زموږ په لیدو راولاړې شوې، مېګن ته یې وویل:

- د سودا مئینې! بیا دې ټول بازار اخیستی

میګن ورته په ویاړ وویل:

هو، دا ټول خو ددې ځوان په برکت

- هغه څنګه؟

میګن ورته د شنبې د ورځې د میلې ټوله ټګي تشریح کړه، هغوی ته یې وویل:

- موږ ته یې په ډالرو راکوي او ده ته یې په افغانیو- ډېر توپیر کوي.

هغوی دواړو وویل:



- ښه، نو چې داسې ده، موږ ته یې هم اخله کنه؟

- ولې نه، څه مو چې پکارېدل یوازې احوال راکوئ.

مېګن پلاستیکونه په خپل کټ کېښودل، له یخچال نه یې یخ شربتونه راواخیستل، یو یې خلاص کړ او ماته یې مخې ته کېښود. هغه هم راسره یوې خواته کیناسته، لاس یې زما په شا تیر کړ، ویل څنګه په فکر کې شوې؟

ما په یو څه وارخطایې سره مخ ورواړوه، بیا مې زړه وکړ، ما هم ترې لاس چاپیره کړ، خپل تندی یې زما تندي سره ولګوه، مسکی شوه. په میز ایښی شربت یې راکړ، په ښي لاس مې ونیوه، یو غړپ مې ترې وکړ، خو زړه مې د اوبو پر ځای د هغې ګلابي شونډو ښکلیدو ته پسخېده.

لکه چې را باندې پوه شوه، په اشاره یې وویل، نجونې ناستې دي، سترګه یې هم کیمنډله، خو د زړه یخني مې شیبه په شیبه ډېریدله، غوښتل مې سړو نیولی زړه مې د هغې غېږې په تاو تود کړم.

نجونې لکه زمونږ په اندېښنو چې پوهېدلې وي مخونه یې واړول، هغې تلوسې او په اور او انګار پوخ شوي انتظار د خوړلنې او خوند غوټۍ سپړلې.

یو بل ته په سترګو کې خبرې وې، په ژبه ګیلې او په شونډو نه سړېدونکې تنده لکه په دښتو کې د پېریانو د غرمې تنرونه همداسې الوتله، خپله یوه نړۍ وه او د خیال په وزرونو د دې نړۍ به هسک الوت نور نشم تصویر کولی...

خپل لاسونه یې لکه د لمر سپینې وړانګې او د ګلابونو څانګې زما په لاسونو کې بند په بند او ګوته په ګوته راغاړې کړل. د مینې د دریاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژورو ته ښکته کېده وو، شونډې، سترګې او ژبه خاموشه وو، زړه لکه د اوبو نه چې کب وتلی وي، درزا یې سلګیو ته ډېره ورته وه.

د بې هوښۍ له دنیا رابهر شو، هغې په موسکا د مخه ښې په دود بدرګه کړم او په غریو سره بیل شو. لار راته تیاره ښکارېده، یوې غاړې ته د غز ونې لاندې کیناستم، ونې ته مې تکیه وکړه، لاس مې په تندي کیښود او د ارمان اوبو واخیستم.

هیڅ پایلې ته ونه رسیدم، خو په رخصتیدو کې چې دمېګن زړه خوږې ته مې فکر شو د امید او هیلو ګلونه مې په زړه کې وټوکیدل او د بیا دغه راز ناستې په تکل له خپل ځایه پاڅیدم.

***

له ځان او جهان نه نا خبره یوازې په خپل فکر کې ډوب د خپل دمه ځای پر ځای د هوایي ډګر لویې دروازې ته روان شوم، کارت مې ورکړ او کورته لاړم، چې ساه مې ښه واخیسته، فکر راغی ساعت ته مې وکتل پوره درې ساعته له خپل وخته څخه مخکې راغلی وم.

هغې سره د دې ځل ناستې، خبرو او وخت تېرولو څه بل رنګ راوړی و، اوس نو د مینې اور لا پسې لمبه کیده، زړه هیڅ وار نه کاوه، په زړه کې د صبر، زغم او امید ځای لوټل کېده او ځای یې داسې بې صبرۍ نبوه، چې نه پرې پوهېدم.

ټولې ورځې د کار تر څنګ د یو بل لیدنې او څو خبرو کولو لپاره وخت جوړولو هڅې وې، ژبه سر ته رسول وو، کټ مټ لکه یو زړه چې له دواړو زړونو رغېدلی وي.

جمعه وه له لمانځه نه چې راوګرځیدم، زنګ راغی، غږ د امریکایي و، زما امنیتي مسوول، ویل چیرته یې؟



هغه ته مې د ځای په اړه وویل، په خندا شو، ویل سبا درسره یو جوړه تورې عینکې راوړه!

- ښه په دواړو سترګو، نور
- ښه وخت- سبا وینو
- ضرور ګورو

له لنډو خبرو وروسته یې په فکر شوم، څه عجیبه راز دی کنه، د وخت قدر له همدوی خلکو سره ډېر دی، ځکه چې پر ارزښت یې پوه دي او همدا وخت دی چې تر هر څه لوړه شتمني ده. په دوه درې ثانیو کې خبرې او هغه هم پوره خبرې، زمونږ خلک خو یو سلام په یوه دقیقه کې که ایله پوره کړي، بیا د جوړ پخیر خبرې، خو یې له کیسې نه کمې نه وي او چې اصل خبره درسره کوي، نو کارت یې وهلی وي.

دا یې هسې یو مثال و، که سړی رښتیا ووایي، نو زمونږ د لټۍ او پاتې کیدو یو ستر لامل دغه د وخت په ارزښت ناخبري ده.

مور ډوډۍ پسې د چایو ډېره کلکه شوه، ما که هر څو ویل چې ګرمي ده، خو هغې په بېل دلیل د چایو څښلو ته پاتې کړم، هغې ویل درې ژبې وایي ګرم خوره او ګرم اغونده، ځکه وسپنه په وسپنه ماتیږي.

دا خبره یې ځکه سمه وه چې ما په ژمي کې یو امریکایي ولید، چې له یخنۍ ریږدېده او د کوکاکولا یخ بوتل یې په لاس کې و، شیبه په شیبه به یې ترې غړپ کاوه.

ماترې لامل وپوښت، ویل تاسو څه فکر کوئ؟

ما ورته وویل، مور په ژمي کې تاوده او په اوړي کې ساړه خورو.

مسکی شو او د سر په ښوریدو یې زما ځواب ناسم وګاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سمه اوړي کې هم لکه ستاسو د وطن ځينې سيمې ډيرې تودې دي، بې له يخو ګوزاره نه شي، خو موږ په ژمي کې هم يخ څښناک غوره ګڼو.

همدغه شان يوه ورځ يو بهرني هندوانه وخوړه، خو ما چای څښه، سم له واره يې د شنو چايو پياله هم ځانته ډکه کړه، ما ويل ما اوريدلي چې بيا په نس درد راولي او پړسوي يې؟

هغه زما په دې خبره ترې ژر ژر دوه درې وارې د چايو پياله ورپورته کړه او ټوله يې په سر واړوله.

ښه شيبه چې وشوه ويل بس دی؟ اوس خو پوه شوې کنه چې دا خبرې سمې نه دي!

***

په کور کې مې يوازيتوب زړه تنګ کړ، بهر ووتم، ډېر مزل نه وروسته د سيند په غاړه يوې ډبرې ته تکيه شوم او د سوچ په کرليچونو د مېګن د يادونو نړۍ ته ورسيدم، د تخيل نړۍ جوړه شوه، شنه غرونه او تپې ودريدې، طبعي ښکلاوې او ښايستونه راوټوکيدل...

بې ويرې او بې ترهې زمانې خپل وزرونه وغړول فضا رنګينه او معطره شوه، د مينې مرغانو سندرې پيل کړې، ونې او بوټي د نري خواږه ياد موسيقۍ ته په ګډا شول.

ګلونو يې استقبال ته ځانونه وغوړول، بخملي شنې قالينې خورې شوې، دلر زرينو وړانګو يې بدرګه کوله را روانه وه، را نږدې شوه، نرۍ سپينې واورينې ليچې يې را چاپيره کړې، ما هم ترې د ارمان ډکه غاړه واخيسته او په غاړه غاړه کې يو بل ته په خاموشه ژبه ګويا



شو...

لکه څوک چې ويده وي خوب ويني او راويښ شي، هېڅ نه وو، د مېګن يادونه رانه تللي وو، سپېره له شوره ډکه ځمکه پاتې وه او اوس ورځ لړه لړه ماښام په خپلو څرو کې رانغاړله.

سهر چې دندې ته روانېدم، خپل امنيتي مسوول لپاره مې تورې عينکې راواخيستې او روان شوم، لوی ور نه تېر شوم، ښه وختي و، ګڼه ګوڼه دومره نه وه، ايله دوه کسان را نه مخې ته وو، هغوی هم زما په ليدو نوبت ما ته راکړ، ما ويل، نه نه درځئ.

زه لکه څه چې مې ورک کړي وي، ښکته پورته مې سترګې واړولې، د نظر باز مې ژر ژر د هغې په لټه يو بل خوا وګرځېده، خو تنده يې ماته نه شوه، تالاشي مې ورکړه، دعکس اخېستو په خونه مې لا پښه نه وه ايښې چې مېګن مې په لومړي ځل دومره له خندا په ډکه خوله، داسې چې په شاه اوړي، وليده. يو څه حيرانۍ ونيوم، د خندا څپې يې چې لږ راکابو شوې، خوله يې خبرې ته جوړه کړه:

- ما درته کاته چې تا يو خوا بل خوا نظر ګرځوو، لکه د لېونې اوړېدې راوړېدې، هن راکه لاس دې.

د لاس په نيوو يې خپلې سينې ته نېږدې کړم، ما هم چې پرون د سيند په غاړه کوم خيالي جنت جوړ کړی و، همغه شان وشوه.

خو د هغې دنده وه او زه هم د کار لپاره دننه روان وم، نو ژر مې سترګه ورته ونيوه، عکس يې واخيست، له خپل امنيتي مسوول سره مې مېګن ته هم يو جوړه نازکه تورې عينکې اخيستې وې، هغه چې مې ورکړې، نو ډېرې يې خوښې کړې او له زړه خوشاله شوه.

عينکې يې واخيستې، په سترګو يې کېښودې، مخامخ ائينې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېده، خندا يې د اننګو ګلونه وسپړل، ما په زړه کې خپل ځان ته ډېرې ښېرې وکړې...

هغه په هغو تورو عينکو کې نوره هم ښکلې ښکارېده، زه څه خبر وم، ما خو ويل چې لمر تېز دی او لکه د هوسۍ غټې خمارې سترګې به يې د لمر له وړانګو خوندي شي او بيا ماسره خو دا وېره وه چې:

*هغه يوه لېونۍ دوه سترګې يې دوه لېونۍ*

*څنګه مې خدای کړلې وژلو ته جوړه لېونۍ*

د هغې سترګې چې په تورو ښيښو کې بندې شوې، نو د مخ ښکلا يې د وسله والو غونډې د ترپ و خرپ حملې شروع کړې. عينکې په سترګو ائينې ته ولاړه وه، کله کله به يې په خپلو څڼو هم لاسونه تېر کړل، په همدې خوښۍ خوښۍ کې يې د مننې توري له سرو شونډو راوورېدل.

ما ورته ويل، په پاتې پنځوسو نمرو کې مې درنه شل نمرې نورې هم کمې کړې، په خندا يې وويل:

څنګه؟

- ولې دې مننه وکړه؟

- ښه ښه بخښنه غواړم، پام مې نه شو

- لس نمرې نورې هم کمې شوې

- څه وشو؟

- ښښنه دې وغوښته

- بس بس، نو بيخي دې ناکامه کړم، ايله پنځلس نومرې پاتې شوې د هغې خبرې ډېرې له خونده ډکې وې، لامو تنده نه وه ماته چې يوه ډله مزدوران راورسېدل، په يو بل پسې ودرېدل.



په نه زړه مې ورته وويل:

- ښه نو لاړ به شم

- سمه ده بيا وينو

***

همداسې ورځې شپې تېرېدې، کله سره ليدل او کله نه، خو يو وخت داسې راغی چې هغه د لرو غرونو او ځنګلونو ښکلې مرغۍ داسې ورکه شوه، چې نه يې د خبرو زمزمې وې او نه يې د خندا هغه شرنګنده شېبې.

په داسې حال کې چې د دومره ناڅاپي بېلتون هېڅ غږ يې راباندې نه و کړی، ورځې اوونۍ او اوونۍ مياشتو ته ورسېدې، برېښنليک يې ځواب نه راکاوه. يوه ورځ طاهر خان، چې زموږ د دفتر د ايميل لېږنې او کتنې دنده يې درلوده او زما ادرس چې له وړاندې مې د ليدلو لپاره ورکړی و، راته زنګ وواهه.

ويل يو ايميل درته راغلی، نور يې څه ونه ويل، کور چې مې دفتر ته نږدې و په منډه ورسېدم، نيغ په وره ورننوتم او ساه نيولی ودرېدم.

کوم دی کوم دی؟ چا رالېږلی؟ څه يې ليکلي؟

ټولې پوښتنې مې دومره وارخطا وې، چې له هغه مې لاره ورکه کړه

- لږ يې را ته ولوله!

هغه په خندا وويل:

- لولم يې! ته خو لږ وار راکه

طاهر خان له ما سره ډېره خواخوږي درلوده، ويل يې لږه حوصله جوړه کړه، ډېرې خوږې خبرې يې ليکلې دي، نسوار يې واچول.

زړه همداسې په ټوپونو و، سترګې وارخطاوې چې کله به په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لفظونو لګېږي، ځواني شهزادګۍ به ورته هم ډېر ليدلي وي او د غوړونو پردي، خو لکه د هغې سندريزو خبرو جل چې نيولي وي.

ليکلي يې وو:

هلو!

ترهر څه د مخه لپې لپې ښښنه، خير دی که مې هغه پاتې نمبرې نورې هم له لاسه وځي، خو بيا هم وايم چې ښښنه، ښښنه...

ته به حيران يې، نه پوهېږم حالت به دې څنګه وي، ورځې به څنګه وي او د هوايي ډګر فضا به په زړه وي که به نه وي، خو زه درنه ښښنه غواړم چې په ځنډ ځواب او احوال درکوم.

موږ په شپږو مياشتو کې يو ځل د چکر لپاره بهر هيواد ته ځو، خو دا ځل زما چکر په بل هيواد کې په دنده واوښت، شپږ مياشتې وروسته درځم، ته مه خپه کېږه.

ستا د مينې د چينار تلپاتي سيوري په ارمان

ستا ميګن

مننه

يوه شېبه لکه ساه ختلی ناست وم بيا مې لاړې تېرې کړې او د پاتو شپږو مياشتو تېرېدو په فکر کې شوم. هغه لنډۍ به ډېره ذهن ته راتله، چې:



*ماته دې لرې شپې بانه کړې*

*تا د ښلتون په غرونو واړول کلونه*

څومره چې مې له جدايي نه بد راتلل، څومره چې مې ترې ځان ژغوره، وسه مې کوله، په لپو لپو دوعاګانې، خو هر څه سيند يوړل، راغله، جدايي راغله، په ښکاره يې وويل، شپږ مياشتې...

***

شپږ مياشتې هم د ښلتانه په نوم قيد کې تېرې شوې او په همدې تلوسه کې يم چې کله به اوس له دې بې خوندې دروازې څخه وځم او د بهررڼا، ازاده فضا، د مينې او ښکلا په سپرلي به مې سترګې لګېږي...

دوه درې ورځې نورې هم پرې واوښتې، د دندې ځای ته روان يم، د مېلې په ځای مې سترګې ولګېدې، ميداني خالي وه، خو تصور هماغه ګڼه ګوڼې او رنګينۍ ته يوړم، چې مېګن پکې سودا کوله. بيا مې مخ هغې لورې ته واړوه چې مېګن به پرې راروانه وه او مېلې ته به راتله، لکه خوب چې وينم، رښتيا هم مېګن راروانه وه.

حيران شوم، ځان ته مې پام شو، ويښ وم، خوب نه و، رښتيا راروانه وه. د مينې او ښکلا په سپرلي مې سترګې ولګيدې، خزان لکه د زېړو پاڼو د هغې د ديدن وړمو په مخه کړی و.

مېګن وه، نوره نو رانږدې شوې وه، زما له خوښۍ او پوره اوږد زړه چاودې انتظار وروسته مې زړه نرۍ شوی و، سترګې مې له اوښکو ډنډ شوې، هغه هم يوه شېبه غلې ودرېده او زه هم په خوله ګونګ او د هغې هر کلي ته مې يوازې خپلې اوښکې پرېښودې، داسې چې تر اخره مې رايسارې نه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس یې را اوږد کړ، زما په اوښکو یې خپل ګلابي پوس لاس تېر کړ، ما وویل:

چې سترګې پټې کړم خوږېږي مې باڼه له درده

نوره هم را جوخته شوه:

*فرهـاده څـومره رومـاني انځـور دی*

*شـیرین مـې اینبـي پـه پرهـر لاسـونه*

نرۍ دنګه غاړه، داسې چې پکې د دواړو زړونو اوږدې سترېا د دمې اوږده سا واخیسته.

ښه چې ارام شو، په خپل وریښمین لاس یې زما لاس ونیو، زور یې کړ، ویل ځه چې کانتین ته ځو...

نه هغې څه ویل نه ما، ورسېدو، کانتین ته ننوتو هغه ما ته ګوري زه هغې ته، مسکۍ شوه غاړه یې تازه کړه، ویل زه خو جوس او چپس اخلم او ته؟

- سمه ده زه هم

شیان مو را واخیسته، بهر راووتو، خوراک هم کوو او خبرې هم، ټولې د تېر بېلتانه د درد خبرې...

*سـتا اخیسـتې نامـه بېرتـه بېرتـه اورم*

*د بېلتـون دا غرونـه څـومره انګـازن دي*

خبرې ډېرې وې او اخر له اوږدې مودې وروسته لیدل وو، خو مخابره ورته وشوه.

- ښه هلکه! زه ځم او اوس خو راغلم، دنده هم را تر غاړې ده او ته هم کارمن یې. نو تر بیا ښه وختونه.

زه خپل کار ته او هغه خپل کار ته روانه شوه، غرمه وه، خپلې خونې



ته ننوتم، ناست نه وم، چې معشوق استاد راغږ کړ:

- هغه کافره! درته غږ کوي

معشوق استاد ته مې داسې ولیدل، چې ګنې خبرو سره دې پام کوه! بهر ووتم، په لاس کې یې د شربتو او بسکټو کارتن نیولی، ما ترې زر ونیوه، ویل زه هم در سره ډوډۍ خورم.

په خوښۍ مې ورته وویل:

- هله راځه دننه راځه!

د هغې په راننوتو ټول کارمندان او موټر چلوونکي حیران شو، ټولو پکې سترګې وګنډلې، ما ورته مخ واړوه، پوه شول او بېرته خپلو خپلو خونو ته ننوتل، ډوډۍ مو چې وخوړه، میګن وویل:

- خوند یې وکه

ما وویل:

- ما هم نن ایله په خوند ډوډۍ وخوړه

ویل یې بیګاه مې هم خوب نه دی کړی او ډېر خوب راځي ما ویل که همدلته ویده شې ستونزه خو به نه وي؟

ویل یې دوه ساعته وخت لرم، هیڅ خبره نه ده، ځای مې ورته جوړ کړ، له پرېوتو سره سم یې سترګې د خوب په رنجو تورې شوې، خو زموږ خونه کې چې پکی نه ؤ او لړه غونډې ګرمي هم وه، ښه شېبه وروسته یې په تندي نرۍ نرۍ خوله لکه د پرخې وځلېده.

خو دا چې خوب له ډېرې سترېا او یا له ډېر خپګان څخه سړي ته ورځي، نو خولو او ګرمۍ پرې ژر اغېز و نه کړ، خو خوب یې هم ډېر و نه کړی شو او ژر راپورته شوه. یوې خوا بلې خوا یې وکتل، له څېرې یې خاموشه غوسه تویېده، زه یې چې یو څه په واټن کې ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدم، بېرته یې د تندي ګونځې خورې کړې، ویل ښښنه غواړم.
ما ورته وویل، زه ښښنه غواړم، چې مې په دې کنډر، بې برېښنا او ورانه خونه کې درته د ویده کېدو وویل، که پخپله ایرکنډېشني خونه کې پرته وې، خوب به دې ښه پوره شوی و.
هغې څه ونه ویل، ځان یې راټول کړ، ټوپک یې غاړې ته واچوه، پاڅېده، زه هم ور سره ورو ورو تر شا روان شوم، تر یو ځایه سره مله وو، نور نو چې ترې زه بېرته راروانېدم مخه ښه مو وکړله، ودرېده مخ یې راواړوه، ویل زه چې بې طبعې شم ځان را ته ګډوډ ښکاري، ما ویل زه پوه نه شوم؟
نرۍ وخندېده، ویل زه چې له خوبه پورته شم ځان ومینځم او بیا له چا سره ګورم نو وایم چې لیده مې پر هغې بوج نه شي.
- هو هو پوه شوم، خو نا دا ستا خپل فکر دی او ما ته خو اوس تر بل هر وخت ډېره ښکلې ښکاري.
لاندې شونډه یې په پاسني غاښ ونیوله، زور یې کړه ویل هن...
خو ښه هلکه! څه یو احساس خو را ته وشو او هغه دا چې اوس پوهه شوم چې تاسو څومره سختۍ زغمئ.
ما وی هو ته رښتیا وایې، زموږ په پښتو کې متل دی چې موړ د وږي له حاله څه خبر دی؟
- هو زه همدغه وایم
- خیر! تېرېږي
په نه زړه یې مخ ستون کړ او د لاس په ښورولو یې مخه ښه وکړه، ښه چې مې له سترګو لرې شوه، نو راوګرځېدم.
رښتیا دا تخیل هم څه بې بریده نرۍ ده، لویدیځوال ترې سراسر



بې نیازه او بېګانه اوسیږي، هغوی ته پخپل ساینس او وسایلو ډېر ناز دی. موږ د اسیا، ختیځ او په ځانګړې توګه افغانان خدای ورکړو دغو هغو پرمختللو او لوړو نعمتونو څخه یوازې د همدغه تخیل په مټ خوند اخلو.
خیر! زما ټول فکر، ټول تصور او خیال په هر ځای کې هغه ځوانه شهزادګۍ لټوله او ټول زړه مې د هغې له یادونو ډک شوی و.
کله کله به مې په خیالونو کې لکه د ګل په خپل ډنډر راماته مسکۍ شوه، زه به هم لمبو ته شوم او د هغې په انځور ایستلو به مې لاس کړ. بس په همدې به مې زړه ډاډه کاوه چې زړګیه! ځنې منزل لار نه لري، په حوصله سر کیږي، خو زما لپاره په خپلېدو سربېره د هغې هره ادا ځان ته نرۍ درلوده، پکې ورک به شوم.

*کله چې په فکر کې داستا شمه*
*لاړ شمه له ځانه خو بیا راشمه*

او دا خو رښتیا دي چې درد او غم، ژوند اوږدوي غځوي او کله چې دغه نه وي ژوند هم په منډه وي، په خوند او رنګ یې سړی نه پوهیږي او بیا د مینې درد او خوند دغه پیکه ژوندون دومره خوږ کړي، چې په هرې شېبې پسې یو ارمان وي، یوه هیله وي.

***

زمونږ کارکوونکي ټیم لیډر امریکایي راباندې پوهېدلی و، چې له ځانه سره مې خبرې کولې، ټول په خندا وو، امریکایي ډېر پوهېده، په خندا یې وویل:
- ښکلې ده!! څومره درباندې ګرانه ده؟
هغه لګیا وو، ویل یې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډېر يې ستا حالت خراب کړی، که زه درته يو څه ووايم، نو دومره ژورو ته يې مه اچوه، بيا به يې په هېرېدو نه پوهېږې او دا داسې ښايستونه دي، چې وليدل شي او هېر شي.

هغه زما په حالت چې له بل هر وخت ډېر دردېدلی وي، ځکه په سترګو کې د اوښکو له دنډو يې معلومه وه.

ما يې ټولې خبرې او مشورې په يوه سوړ اسويلي بدرګه کړې، لکه چې ورته وايم:

- نه کېږي يار! اوس نه کېږي...

هو ورته ومې ويل، کېنه، کېناست، ګوره دا چې هغه راباندې څومره ګرانه او په زړه کې مې څومره ځای لري، نو د دې لپاره اوس ډېر لفظونه پکار دي، هغه دومره ښکلې ده او هره شېبه داسې ښکاري چې ته وا دا اوس يې ګورم، څه درته ووايم! هر ځل ليده يې داسې وي، بيا بيا له سينې زړه باسي، خو هغه زمونږه د بابا خبره:

*زړه که يو وي ما دی تا لره درکړی*
*مګر نورو لره نور زړونه پيدا کړم*

بس زړه هماغه يو وي، چې دې ځوانې شهزادګۍ وړی او دا چې بيا بيا د وړلو هڅه کوي، نو د هغې د ښايست له جادو بل نوم نه ورسره جوړېږي.

زما زړه د هغې د ژوند د هغې کتاب په لټه کې دی، دا يې جوړوله، ورانوله او بيا ترې دغسې يو انځور جوړېده.

له کومې ورځې يې چې لاس راکړی اوس مې هم له لاسه خوشبو راځي، د هغې ياد مې تل د زړه ور ټکوي او له سترګو مې لکه سيوری نه ځي.



امريکايي مې را ته په خوله لاس کېښود، ويل بس دی، ودې ژړولم، مايي لاس لرې کړ:

اوس واوره نو که څوک غږ و نه کړي تر سبا يې هم د ښايت او مينې دا سندرې سندرې خبرې نه تمامېږي، خو چې ليدل مې د هغې سترګو رښتيا هم نور د اوښکو بندونه راماتول.

غلی شوم، په لومړي ځل مې له مېګن نه وروسته د يوه بل امريکايي په سترګو کې اوښکې وليدې.

د هغې له اوښکو سره راته د هغوی د جنګ کيسې رايادې شوې، هغه سياستونه، چې دغسې د ويلي ويلي زړونو خلک يې د سرو اورونو جنګونو ته رادننه کړي دي.

دغسې ډېر نور هم وو، چې هېڅ د جګړې لپاره نه وو پيداشوي، هغه ځوانه شهزادګۍ چې بايد د خپل وطن په رڼا رڼا ښارونو کې وای، نن دې سياستي او ډرامه‌يي جنګونو داسې غرونو او ترږو ته راوړې وه، چې په خوب يې نه وي ليدلې.

خو که د جنګ په ځای په نړۍ کې د مينې او انساني همدردۍ په تار سره د ژوند برهرونه راټول شي، نو امن به بيا د وينو په تويولو نه د سپرليو غوندې د ګلونو په سپړلو راشي.

امريکايي روان شو، په خبرو مې ورله سر په درد کړ، چې څو ګامه لاړ پرې مې غږ کړ:

ـ ستا د خوښې چای...

په خندا شو، ويل، اوس همدومره وخت و، بيا راځم

***

دوه درې ورځې هوايي ډګر ته لاړم، خو څوک مې ونه ليدل، خلک به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر وو، خو ما چې څوک لیدل غوښته او زړه ته مې پرې دمه راتله هغه څوک نه وو، کله به ډاډه شوم، چې چرته به په پوځې کاروان کې تللې وي او را به شي...

خو ورځې ډېرې تېرې شوې، مېګن غیب شوه، ویلیم هم څو ورځې رانغی، وروسته خبر شوم، چې هغه بل ولایت ته په دنده تللی.

اوس نو ښه سم یوازې شوی وم، په میګن پسې مې نورې سترګې له خپلو ځایونو او زړه له سینې په راوتو و، هېڅوک نه وو، چې پوښتنه ترې وکړم. هر ځای مې ولټوه، هره خېمه او دفتر مې ولید، مګر نه مې هغه ولیده او نه مې یې په اړه څه معلومات پیداکړل.

خو څه، هېڅ نه وو، د هوایي ډګر لارو او سړکونو هم څه نه ویل، ماته هم نورې دا لارې داسې وې چې پردۍ مې ګڼلې، روان به وم په ځان پسې به مې ولیدل، چې اوس به راځي او لاس به په لاس کې راکوي...

ماښام چې لاړم ایمیل مې ولید، حال احوال نه و، پوه شوم، چې د هغې سندرمارې مرغۍ وخت پوره شوی او تللې. بې واره مې خولې ته هغه نیمه لنډۍ راغله:

په مسافرو مَین مه شې

اوس نو له هغې پرته یوازې هوایي ډګر نه، چې د هغې په شتون راته جنت و، ټول ژوند بې خونده و او هغه ځای خو بې له دې وران و. ډاډه شوم چې هغه نوره نه شته، هغه بیا نه راځي او ما هم د هغې لپاره د دې دیوالونو ترمنځ د ژوند ورځې تېرولې، نو فکر راغی، چې دلته پاتې کېدل به مې لویه بې وفایي وي، څه که هغې راپوره کړه، خو هغه مجبوره وه او که اوس نه وای، نو وروسته به خامخا له دې



ځایه تله، ځکه خو مې بې وفا نه شوه ګڼلی.

په همدې فکر او حقیقت چې دلته دنده مې د هغې لپاره وه، نو لاړم کارت مې وسپاره او له ډګره د تل لپاره ووتم. له لوی وره سره ودرېدم، خو ژر مې سترګو ته هغه شېبه ودرېده چې په لومړي ځل یې راته د سترګې عکس اخیسته، نېږدې وه چې سر راباندې وچورلي.

پوره یوه میاشت وروسته مې خپل ایمیل بېرته کړ، چې لیدل مې نوی پېغام راغلی و، لیکلي یې وو:

مخه ښه!

ترې لاندې د ښښنې جمله لیکلې وه او لاندې متن یې داسې و:

دا تاب مې نه لاره، چې پخپله ناڅاپي تلنه دې خبر کړم، هغه درد مې نه شو درکولای، ما ویل زړه دې مات نه شي او چې کله به مې د مخه ښې سخت الفاظ را په زړه کړل، نو زړه به مې ویل، نا!! له ښه هلکه څنګه مخه ښه وغواړم؟؟

له هماغې شېبې، چې ستاسې په هوایي ډګر کې مې دا فکر وکړ ایله اوس په دې راسره زړه راضي شو، چې درته ولیکم:

زه! بې وفا

تا وګټله!!

*پای*

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**